# د دوهم سموئيل کتاب

## داود د شائول د مړينې څخه خبرېږي

١ ١ د شائول د مړينې څخه وروسته، داود عماليقيانو ته د ماتې ورکولو څخه راستون
شو او دوه ورځې په صقلغ کې پاتې شو. ٢ په دريمه ورځ د شائول د کمپ څخه يو
ځوان سړی چې کالي يې شلېدلي او په سر باندې يې خاورې شيندلې راغی. کله چې هغه
داود ته ورغی نو هغه ته د درناوي په خاطر په ځمکه باندې پړمخې پرېوت. ٣ داود د
هغه څخه پوښتنه وکړه: <له کومه ځايه راغلې؟>

هغه ځواب ورکړ: <زه د اسراييلو د اردو څخه راتښتېدلی يم.>

۴ داود پوښتنه وکړه: <ماته ووايه چې په جګړه کې څه پېښ شول؟>

هغه وويل: <اسراييليان له جګړې څخه تښتېدلي دي، د هغوی څخه يو زيات شمېر ووژل
شول. شائول او د هغه زوی يوناتان هم ووژل شول.>

۵ نو داود د هغه څخه پوښتنه وکړه: <ته څنګه پوه شوې چې شائول او يوناتان مړه
دي؟>

۶ هغه ځوان ځواب ورکړ: <د تصادف له مخې زه د جلبوع په غره کې وم او ما وليدل
چې شائول په خپلې نېزې باندې تکيه کړې وه او د دښمن جنګي ګاډي او سپاره عسکر هغه
ته نژدې کېدل. ٧ په دې وخت کې هغه مخ راواړاوه، زه يې وليدلم او ماته يې نارې
کړې. ما ځواب ورکړ: امر وکړئ، ښاغليه! ٨ هغه زما څخه پوښتنه وکړه: ته څوک يې؟



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما ځواب ورکړ: زه يو عماليقی يم. ٩ هغه له ما څخه هيله وکړه او وويل: راشه ما ووژنه
او د دې رنځ نه مې خلاص کړه، سره له دې چې ډېر سخت درد لرم لا هم ژوندی يم. ١٠
نو زه ورغلم او هغه مې وواژه، ځکه زه پوهېدم چې هغه سخت ژوبل دی او په هر صورت
هغه مړ کيږي. وروسته مې د هغه د سر څخه تاج او د مټ څخه کړی راواخيستل او تاسو
ته مې ای باداره راوړل.>

١١ نو داود او د هغه ټولو نفرو له غمه خپل کالي وشلول. ١٢ هغوی د شائول، يوناتان
او د څښتن د قوم يعنې د اسراييلو دپاره يې وير وکړ، ويې ژړل او تر مابنامه پورې يې روژه
ونيوله، ځکه چې په جګړه کې ډېر زيات نفر وژل شوي وو.

١٣ داود د هغه ځوان څخه چې ده ته يې خبر راوړی ؤ پوښتنه وکړه: <ته د کوم ځای
يې؟>

هغه ځواب ورکړ: <زما پلار عماليقی دی خو مونږ ستاسو په هېواد کې اوسېږو.>

١٤ داود د هغه څخه پوښتنه وکړه: <تا څنګه دا جرأت کړی دی چې د څښتن غوره
شوی پادشاه ووژنې؟> ١٥ وروسته بيا داود د خپلو نفرو څخه يو تن راوغوښت او ورته
ويې ويل: <هغه ووژنه!> نو هغه يې وواهه او مړ شو. ١٦ داود هغه عماليقي ته وويل:
<ستا وينه دې ستا په خپله غاړه وي. تا په خپله ژبه اقرار وکړ چې د څښتن غوره شوی
پادشاه دې وواژه.>

## د شائول او يوناتان دپاره د داود د وير سندره

١٧ داود د شائول او د هغه د زوی يوناتان دپاره دغه د وير سندره وويله ١٨ او امر يې
وکړ چې د يهودا خلکو ته دې دغه د وير سندره ورزده کړای شي چې د ليندې د وير په نوم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یادیږي. (دا سندره د یاشر په کتاب کې لیکل شوې ده.) سندره داسې ده:

١٩ <د اسراییلو په غونډیو باندې زمونږ مشران له منځه لاړل!

هغه زړور ځنګه راپرېوتل!

٢٠ په جت کې دا اعلان مه کوئ

د اشقلون په کوڅو کې دا مه خپروئ

داسې نه چې د فلسطینیانو ښځې خوشاله شي

داسې نه چې د کافرانو لورګانې خوشاله شي

٢١ ای د جلبوع غرونو

په تاسو دې پرخه یا باران ونه اوریږي

ستاسو پټې دې غلې دانې ونه کړي

ځکه چې هلته د زړور جنګیالي سپر ناولی شوی دی

د شائول سپر به نور په تېلو غوړ نه شي

٢٢ د یوناتان لینده وژونکې وه

د شائول توره وه بې رحمه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زورور يې مړه کول، دښمنان به يې وژل

۲۳ شائول او يوناتان وو خومره ښکلي خومره ګران!

ژوند او مرګ کې هم يوځای وو

چابک له عقابانو

قوي وو له زمريانو

۲۴ ای د اسراييل ښځو شائول دپاره وژاړئ!

هغه تاسو ته کالي ښکلي سره دراغوستل

او هغه يې د سرو زرو په ګاڼو سينګارول

۲۵ څنګه مړه دا جنګيالي شول

هغوی د جنګ په ترخ کې ووژل شول

يوناتان مړ پروت په غونډيو کې دی

۲۶ يوناتانه زما وروره، ستا دپاره زه غمجن يم

ته په ما باندې ډېر ګران وې

عجيبه ستا محبت ؤ زما دپاره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ۀ محبت دې ډېر ژور تر محبت د ښځو

۲۷ ښکه جنګیالي راپرېوتلي دي

د هغوی وسلې له منځه تللي دي>

## داود د یهودا پادشاه ټاکل کیږي

۲ ۱ وروسته بیا داود د څښتن څخه پوښتنه وکړه: <آیا زه لاړ شم او د یهودا د
ښارونو څخه د یو کنټرول په لاس کې واخلم؟>

څښتن ځواب ورکړ: <هو.>

داود پوښتنه وکړه: <کوم یو ښار ته لاړ شم؟>

څښتن ووېل: <حبرون ته.> ۲ نو داود خپلې دوه ښځې، یزرعیلي اخینوعم او د نابال
کرملي کونډه ابیجایل له ځان سره واخیستلې او حبرون ته لاړ. ۳ همدارنګه داود خپل
نفر او د هغوی کورنۍ د ځان سره بوتلې او هغوی د حبرون په شاوخوا ښارونو کې ځای په
ځای شول. ۴ وروسته د یهودا سړي حبرون ته راغلل او هلته یې داود د یهودا د پادشاه
په توګه غوره کړ.

کله چې داود واورېدل چې د جلعاد د یابیش خلکو شائول ښخ کړی دی، ۵ هغه
استازي ولېږل چې هغوی ته داسې ووایي: <څښتن دې تاسو ته برکت درکړي ځکه چې
تاسو خپله وفاداري خپل پادشاه ته وښودله چې هغه مو ښخ کړ. ۶ څښتن دې له تاسو
سره مهرباني او وفاداري وکړي او د هغه کار په خاطر چې تاسو کړی دی زه به هم تاسو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره نېکي وکړم. ۷ اوس چې ستاسو پادشاه شائول مړ شوی دی او د يهودا خلکو زه د
خپل پادشاه په توګه غوره کړی يم، نو قوي او زړور اوسئ!>

## ايشبوشت د اسراييلو پادشاه ټاکل کېږي

۸ په دې ترڅ کې د شائول د لښکرو قوماندان د نير زوی ابنير د شائول زوی ايشبوشت
د محنايم ښار ته چې د اردن د سيند بلې خواته ؤ راوست. ۹ په هغه ځای کې ابنير
ايشبوشت د جلعاد، يزرعيل، اشير، افرايم او بنيامين په سيمو باندې، يعنې په ټولو اسراييلو
يې پادشاه کړ. ۱۰ هغه د خلوېښتو کالو په عمر ؤ چې د اسراييلو پادشاه شو او دوه کاله
يې پادشاهي وکړه. مګر د يهودا قبيله داود ته وفاداره وه. ۱۱ داود په حبرون کې د يهودا
په قبيلې باندې اووه نيم کاله پادشاهي وکړه.

## د اسراييلو او يهودا ترمنځ جګړه

۱۲ ابنير د ايشبوشت د نفرو سره يوځای د محنايم څخه جبعون ښار ته لاړل. ۱۳ د
داود نفر د زرويه زوی يعنې يوآب په مشرۍ ووتل او دواړه ډلې د جبعون د ډنډ سره يو د
بل سره مخامخ شوې. يوه ډله د ډنډ يوې خواته او بله ډله د ډنډ بلې خواته کښېناستله. ۱۴
ابنير يوآب ته وړانديز وکړ: <راځئ چې د دواړو خواو څخه ځوانان راولو چې زموږ په
مخ کې وجنګيږي، هر سړی د بل سړي په مقابل کې.>

يوآب ځواب ورکړ: <صحيح ده.>

۱۵ نو ځوانان ودرېدل او وشمېرل شول، دولس تنه د بنيامين د قبيلې او د ايشبوشت څخه
او دولس تنه د داود د نفرو څخه. ۱۶ هر سړي خپل سيال له وېښتانو رانيوه او خپله توره
يې د هغه په اړخ کې منډله، ترڅو هغه ټول څلورويشت تنه سره يوځای وغورزېدل او مړه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شول. نو هغه ځای د تورو د میدان په نوم یاد شو.

۱۷ د دې پسې بله جګړه ډېره سخته وه، د ابنیر او د اسراییلو عسکرو ته د داود د عسکرو
له خوا ماتې ورکړای شوه. ۱۸ د زرویه درې زامن، یعنې یوآب، ابیشای او عساهیل په
هغه ځای کې وو. عساهیل چې د هوسۍ په شان تېزې منډې وهلې ۱۹ د ابنیر په تعقیبولو
پې پیل وکړ او په مستقیمه توګه یې د هغه پسې منډې وهلې. ۲۰ ابنیر شاته وکتل او ویې
ویل: <ای عسایله، دا ته یې؟>

هغه ځواب ورکړ: <هو.>

۲۱ ابنیر وویل: <بس کړه! ما مه تعقیبوه! د عسکرو څخه یو راونیسه او وسلې او زغره
ورڅخه واخله.> مګر عساهیل د هغه د تعقیبولو څخه لاس وانه خیست. ۲۲ ابنیر یو ځل
بیا عساهیل ته خبرداری ورکړ: <بس کړه! ما مه تعقیبوه! زه نه غوارم تا ووژنم. زه به څنګه
ستا ورور یوآب ته وګورم؟> ۲۳ خو عساهیل د هغه خبره ونه منله، نو بیا ابنیر د خپلې
نېزې بېخ د عساهیل په ګېډه ورننه ایست او نېزه د هغه له شا څخه ووتله. هغه هلته پرېوت
او ځای په ځای مړ شو او هر سړی چې به هغه ځای ته چې عساهیل په کې مړ پروت ؤ
راغی وبه درېده.

۲۴ مګر یوآب او ابیشای په ابنیر پسې شول. څنګه چې هغوی د امه غونډۍ ته چې جیح
ته مخامخ وه او د جبعون د بیابان په لاره کې وه ورسېدل لمر پرېواته. ۲۵ د بنیامین د
قبیلې خلک یو ځل بیا د ابنیر په شاوخوا راټول شول او د یوې غونډۍ د پاسه ودرېدل.
۲۶ ابنیر یوآب ته ناري کړې: <آیا مونږ به تل جنګېږو؟ آیا ته نه پوهېږې چې دا به په
تریخوالي پای ته ورسیږي او انجام به یې ښه نه وي؟ ولې خپلو نفرو ته امر نه ورکوې چې
د خپلو ورونو د تعقیبولو څخه لاس واخلي؟>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٧ یوآب ځواب ورکړ: <زه په ژوندي خدای قسم خورم که دا خبره دې نه وای کړې،
نو زما نفرو به تر سبا سهاره پورې تاسو تعقیبولئ.> ٢٨ نو یوآب خپلو نفرو ته د نښي په
توګه سرنی وواهه چې د اسراییلیانو د تعقیبولو څخه لاس واخلي، نو جنګ ودرېد.

٢٩ ابنیر او د هغه نفرو هغه ټوله شپه د اردن په دره کې مزل وکړ. هغوی د اردن له سیند
څخه تېر شول، په راتلونکې ورځ یې تر غرمې پورې لاره ووهله او بېرته محنایم ته
ورسېدل.

٣٠ کله چې یوآب د ابنیر تعقیبول پرېښودل، خپل ټول نفر یې راغونډ کړل. پرته له
عساهیل څخه د داود د نفرو نولس تنه ورک شوي وو. ٣١ مګر د داود نفرو د بنیامین د
قبیلې درې سوه شپېته تنه چې د ابنیر سره وو وژلي وو. ٣٢ یوآب او د هغه نفرو د
عساهیل مړی واخیست او په بیت لحم کې یې د هغه د پلار په هدیره کې ښخ کړ. وروسته
بیا هغوی ټوله شپه لاره ووهله او د سباوون په وخت حبرون ته ورسېدل.

٣ ١ د شائول د کورنی د پلویانو او د داود د پلویانو ترمنځ د اوږدې مودې دپاره جنګ
روان ؤ. څنګه چې داود قوي کېده، هغومره د شائول پلویان کمزوري کېدل.

## د داود هغه زامن چې په حبرون کې زېږېدلي وو

٢ د داود هغه زامن چې په حبرون کې زېږېدلي وو: مشر یې، امنون، د یزرعیلي اخینوعم
زوی، ٣ دوهم یې، کیلاب، د کرملي نابال د کونډې ابیجایل زوی او دریم یې، ابشالوم، د
معکې زوی چې د جشور د پادشاه تلمای لور وه، ٤ څلورم یې، ادونیا د حجیت زوی،
پنځم یې، شفطیا د ابیطال زوی ٥ او شپږم یې، یترعام، د عجلې زوی ؤ. هغه هم د داود
ښځه وه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ابنیر د داود سره یوځای کیږي

۶ د داود او د شائول د کورنیو ترمنځ د جګړې په دوران کې، ابنیر د شائول د پیروانو په
منځ کې خپل دریځ قوي کاوه.

۷ یوه ورځ د شائول زوی ایشبوشت په ابنیر باندې تور ولګاوه چې د شائول د وینځو
څخه د یوې وینځې سره چې رزفه نومېدله او د ایه لور وه یوځای شوی دی. ۸ ابنیر په
دې خبرې باندې ډېر په قهر شو او ویې ویل: <ستا خیال دا دی چې زه به د شائول سره
خیانت وکړم؟ د پیل څخه زه ستا د پلار شائول کورنۍ ته، د هغه ورونو او د هغه ملګرو ته
وفادار وم. ته مې د داود لاس ته ونه سپارلې، خو سره له دې په ما باندې د دې ښځې سره
د بد کار کولو تور لګوې! ۹-۱۰ څښتن د داود سره لوظ کړی ؤ چې هغه به د شائول د
کورنۍ څخه پادشاهي واخلي او داود به د اسراییلو او د یهودا پادشاه کړي، هغه به د دان
څخه تر بئرشبع پورې پادشاهي وکړي. نو څښتن دې ما ووژني که ما دا خبره رښتیا نه
کړه!> ۱۱ ایشبوشت جرأت ونه کړ چې ابنیر ته بله خبره وکړي، ځکه چې د هغه څخه
وېرېده.

۱۲ نو ابنیر له خپلې خوا څخه استازي ولېږل چې داود ته داسې ووایي: <پوهېږې چې د
دې هېواد خاوند څوک دی؟ زما سره تړون وکړه او زه به ستا سره مرسته وکړم چې ټول
اسراییل ستا خواته راواړوم.>

۱۳ داود ومنله او ویې ویل: <ډېر ښه، زه ستا سره تړون کوم، ولې په یو شرط، ترڅو
لومړی د شائول لور میکال د ځان سره ماته رانه ولې زه ستا سره نه مخامخ کېږم.> ۱۴
همدارنګه داود ایشبوشت ته هم استازي ولېږل چې ورته ووایي: <زما ښځه میکال بېرته
ماته راکړه. ځکه چې ما د هغې سره د واده کولو په خاطر د سلو فلسطینیانو د سنتې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوستکي ورکړي دي.> ١٥ نو ایشبوشت خو نفره ولېږل چې میکال د هغې د مېړه فلتئیل
څخه چې د لایش زوی ؤ واخلي. ١٦ فلتئیل د بحوریم تر ښاره پورې په ټوله لاره کې
ژړل او په هغې پسې روان ؤ. مګر کله چې ابنیر وویل: <بېرته کور ته لاړ شه!> نو هغه
بېرته خپل کور ته ستون شو.

١٧ ابنیر د اسراییلو د مشرانو سره مشوره وکړه او ویې ویل: <تاسو د ډېرې مودې
راهیسې غوښتل چې داود ستاسو پادشاه شي. ١٨ اوس دا موقع رارسېدلې ده، دا په یاد
ساتئ چې څښتن د داود سره وعده کړې وه: زه به ستا په وسیله خپل قوم اسراییل د
فلسطینیانو او د هغوی د نورو ټولو دښمنانو څخه وژغورم.> ١٩ ابنیر د بنیامین د قبیلې د
خلکو سره هم خبرې وکړې. وروسته بیا هغه حبرون ته لاړ چې د بنیامین د خلکو او نورو
اسراییلیانو تصمیم داود ته ووایي.

٢٠ کله چې ابنیر د خپلو شلو نفرو سره داود ته چې په حبرون کې ؤ ورغی، داود هغوی
ته مېلمستیا تیاره کړه. ٢١ په هغه وخت کې ابنیر داود ته وویل: <اعلیحضرته! اجازه
راکړئ چې لاړ شم او ټول اسراییلیان ستاسو حضور ته راټول کړم. هغوی به ستاسو سره یو
تړون وکړي او تاسو به په ټول هېواد باندې پادشاهي وکړئ څنګه چې تاسو یې غواړئ.>
نو داود ابنیر رخصت کړ او هغه په سلامتۍ سره لاړ.

## یوآب ابنیر قتلوي

٢٢ په همدې وخت کې یوآب او د داود عسکر د یرغل کولو څخه راستانه شول او هغوی
ډېر لوی غنیمت له ځان سره راوړ. مګر ابنیر نور د داود سره په حبرون کې نه ؤ، ځکه چې
داود هغه په سلامتۍ سره استولی ؤ. ٢٣ کله چې یوآب د خپلو عسکرو سره راورسېد،
هغه خبر شو چې ابنیر داود پادشاه ته راغلی ؤ او پادشاه هغه په سلامتۍ سره استولی دی.
٢٤ نو یوآب پادشاه ته ورغی او ورته یې وویل: <څه دې وکړل؟ ګوره، ابنیر تاته راغی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا ولې هغه پرېښود چې لاړ شي؟ اوس هغه تللی دی! ۲۵ ته ابنير ښه پېژنې. هغه د دې دپاره راغلی ؤ چې تا وغولوي او ستا د ټولو حرکاتو او کارونو نه ځان خبر کړي.>

۲۶ بيا يوآب د داود څخه لاړ، په ابنير پسې يې استازي ولېږل او هغه يې د سيره له کوهي څخه بېرته راوست. مګر داود خبر نه ؤ. ۲۷ نو کله چې ابنير حبرون ته راستون شو، يوآب هغه د ښار په دروازه کې يوې خواته يووړ په دې بهانه چې د هغه سره پټې خبرې کوي. هلته يوآب د خپل ورور عساهيل د وينې د بدل اخيستلو په خاطر د هغه ګېډه څيرې کړه او هغه يې په قتل ورساوه. ۲۸ کله چې داود دا خبر واورېد ويې ويل: <څښتن پوهېږي چې زه او زما رعيت په بشپړه توګه د ابنير د قتل څخه بې ګناه يو. ۲۹ د دې سزا دې په يوآب او د هغه په ټولې کورنۍ باندې راشي. زه ښېرا کوم چې د يوآب د اولادې څخه ځينې دې تل د سوزاک او يا د پوستکي په نورو مرضونو باندې اخته شي او يا هغوی دې يزک شي او يا دې په جنګ کې ووژل شي او يا دې په لوږه اخته شي.> ۳۰ په دې ډول يوآب او د هغه ورور ابيشای، ابنير قتل کړ ځکه چې هغه د جبعون په جګړه کې د هغوی ورور عساهيل وژلی ؤ.

۳۱ نو داود يوآب او د هغه ټولو نفرو ته امر وکړ: <خپل کالي وشلوئ، د وير کالي واغوندئ او د ابنير دپاره وير وکړئ.> داود پادشاه په خپله د جنازې پسې روان ؤ. ۳۲ هغوی ابنير په حبرون کې ښخ کړ. پادشاه په لوړ اواز سره د ابنير په قبر باندې وژړل او نورو ټولو خلکو هم وژړل. ۳۳ داود پادشاه د ابنير دپاره دغه د وير سندره وويله:

<ولې دې مړ شي ابنير د يو احمق په شانتې؟

۳۴ نه ستا لاسونه تړل شوي وو

او نه دې پښې په ځنځيرونو تړل شوي وې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووژل شوي ته د يو مجرم په څېر<

ټولو خلکو يو ځل بيا د ابنير دپاره وژړل.

۳۵ ټوله ورځ خلکو هڅه وکړه چې په داود باندې يو څه وخوري، مګر هغه قسم وخوړ:
<که زه د لمرپرېواته پورې څه شی وخکم نو خدای دې ما ووژني!< ۳۶ خلک دې
خبرې ته متوجه شول او خوشاله شول، په رښتيا سره څه چې پادشاه کول ټول خلک په
هغو باندې خوشالېدل. ۳۷ نو په هغه ورځ د داود ټول نفر او د اسراييلو ټول قوم پوه شول
چې پادشاه د ابنير په قتل کې لاس نه درلود. ۳۸ پادشاه خپلو نفرو ته وويل: <آيا تاسو
نه پوهېږئ چې نن په اسراييلو کې يو لوی مشر مړ شوی دی؟ ۳۹ که څه هم زه د خدای
غوره کړای شوی پادشاه يم، خو نن کمزوری يم. دا د زرويه زامن زما څخه ډېر زورآور
دي، څښتن دې دوی ته داسې سزا ورکړي لکه څنګه چې د هغې وړ دي!<

د ايشبوشت قتل

**۴** ۱ کله چې د شائول زوی ايشبوشت واورېدل چې ابنير په حبرون کې وژل شوی
دی، هغه خپل همت له لاسه ورکړ او د اسراييلو ټول خلک ووېرېدل. ۲ ايشبوشت دوه
چريکي قوماندانان درلودل چې د يو نوم بعنه او د بل نوم ريکاب ؤ. هغوی د بيروتي رمون
زامن وو او د بنيامين د قبيلې څخه وو. (بيروت د بنيامين يوه برخه ګڼل کيږي. ۳ د هغه
اصلي اوسېدونکي جتايم ته تښتېدلي وو، چې تر نن ورځې پورې هلته د بېګانه خلکو په
شان اوسيږي.)

۴ د شائول زوی يوناتان يو زوی درلود چې په دواړو پښو شل ؤ. هغه پنځه کلن ؤ چې
د يزرعيل څخه د شائول او يوناتان د مړينې خبر راغی. د هغه دايي هغه واخيست او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وتښتېدله، مګر هغه داسې په بیړه تلله چې هلک ولوېد او شل شو. د هغه نوم مفیبوشت ؤ.

۵ نو بیا ریکاب او بعنه د ایشبوشت کور ته روان شول، هغوی د غرمې د ګرمۍ په مهال
هلته ورسېدل. په دې وخت کې ایشبوشت د غرمې په خوب ویده ؤ. ۶ د کور د دروازې
ساتونکې ښځې غنم پاکول. د څو شېبو نه وروسته، هغه ستړې شوه او خوب وېوړه. نو
ریکاب او بعنه پټ دننه لاړل. ۷ دوی هغه وخت کور ته ورننوتل چې ایشبوشت د خپل
خوب په کوټه کې په کټ کې پروت ؤ. هغه یې وواژه او د هغه سر یې پرې کړ. بیا د هغه سر
یې د ځان سره واخیست او ټوله شپه یې د اردن په دره کې سفر وکړ. ۸ هغوی د
ایشبوشت سر په حبرون کې داود ته راوړ او هغه ته یې وویل: <اعلیحضرته! دا ستاسو د
دښمن شائول د زوی ایشبوشت سر دی، هغه شائول چې ستاسو د وژلو هڅه یې کوله. نن
څښتن ستاسو بدله د شائول او د هغه د اولادې څخه واخیستله.>

۹ مګر داود هغوی ته ځواب ورکړ: <د هغه ژوندي څښتن په نوم قسم خورم چې زه
یې د ټولو مصیبتونو څخه خلاص کړی یم. ۱۰ هغه څوک چې ماته صقلغ ته راغی او د
شائول د مړینې خبر یې راوړ، دا ګمان یې کاوه چې ښه خبر یې راوړی دی. نو هغه مې
ونیوه او ومې واژه. دا هغه انعام ؤ چې هغه ته مې د هغه د ښه خبر دپاره ورکړ! ۱۱ دا
نوره هم بده ده چې تاسو بدکاره سړیو یو بې ګناه سړی چې په خپل کور کې ویده ؤ قتل
کړی دی! زه به اوس د هغه د قتل بدل ستاسو څخه واخلم او د ځمکې له مخ څخه به مو
ورک کړم!> ۱۲ نو داود خپلو نفرو ته حکم وکړ چې ریکاب او بعنه ووژني او هغوی دا
کار وکړ. بیا یې د هغوی لاسونه او پښې پرې کړل او د هغوی مړي یې په حبرون کې د ډنډ
په غاړه ځوړند کړل. مګر هغوی د ایشبوشت سر واخیست او په حبرون کې یې د ابنیر په
هدیره کې ښخ کړ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## داود د ټولو اسراييلو پادشاه

(اول تواريخ ۱۱: ۱ – ۹، ۱۴: ۱ – ۷)

**۵** (۱) د اسراييلو د ټولو قبيلو مشران داود ته چې په حبرون کې ؤ ورغلل او هغه ته يې
ووېل: <مونږ ستاسو خپل هډوکي او وينه يو. (۲) مخکې چې کله شائول زمونږ پادشاه ؤ،
همدا تاسو وئ چې په عسکري عملياتو کې به مو اسراييلو ته لارښوونه کوله او څښتن
تاسو ته ووېل: ته به د يو شپون په توګه زما د قوم لارښوونه کوې او د هغوی ټاکلی مشر به
يې.>

(۳) کله چې د اسراييلو ټول مشران داود پادشاه ته ورغلي وو، داود د څښتن په مخ کې د
هغوی سره يو تړون وکړ. بيا هغوی د داود سر په تېلو غوړ کړ او هغه يې د اسراييلو د
پادشاه په توګه غوره کړ.

(۴) داود دېرش کلن ؤ چې پادشاه شو او څلوېښت کاله يې پادشاهي وکړه. (۵) په
حبرون کې هغه په يهودا باندې اووه کاله او شپږ مياشتې پادشاهي وکړه او په اورشليم کې
يې په ټولو اسراييلو او يهودا باندې درې دېرش کاله پادشاهي وکړه.

## داود او د اورشليم فتح

(۶) هغه وخت راورسېد چې داود پادشاه او د هغه عسکر په اورشليم باندې د حملې کولو
دپاره روان شول. يبوسيان چې په هغه سيمه کې اوسېدل هغوی خيال کاوه چې داود به دا
ښار فتح نه کړي، نو هغوی داود ته ووېل: <ته به هيڅ کله دې ښار ته دننه نه شې، ځکه
ړانده او شلان هم کولی شي ستا د ننوتو مخه ونيسي.> (۷) (مګر داود د صهيون د غره
طبعي کلا ونيوله او هغه د داود د ښار په نوم مشهوره شوه.)



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ په هغه ورځ داود خپلو نفرو ته وويل: <هرڅوک چې غواړي په يبوسيانو باندې
حمله وکړي هغه دې د کاريز له لارې هغو ړاندو او شلانو ته چې د داود ډېر سخت دښمنان
دي ځانونه ورسوي.> هغوی ځکه داسې وايي: <هيڅ ړوند او شل ماڼۍ ته ننوتلی نه
شي.>

٩ نو داود په کلا کې ځای په ځای شو او په هغې باندې يې د داود ښار نوم کېښود. د
هغه شاوخوا ته يې ښار جوړ کړ، په هغه ځای کې يې کار شروع کړ چې ځمکه يې د
غونډۍ له ختيځې خوا څخه نوې راډکه شوې وه. ١٠ د داود قوت ورځ په ورځ زياتېده
ځکه چې مطلق قادر څښتن خدای ورسره و.

١١ نو بيا د صور پادشاه حيرام، داود ته خپل استازي ورولېږل. د هغوی سره ترکاڼان او
ختېګران هم وو. هغوی د صبر د ونو ډېرونه راوړل او داود ته يې ماڼۍ جوړه کړه. ١٢ نو
داود پوه شو چې څښتن د هغه پادشاهي په اسراييلو باندې ټينګه کړې ده او د هغه پادشاهي
د خپل قوم يعنې د اسراييلو په خاطر نېکمرغه کوي.

١٣ وروسته له هغې چې داود د حبرون څخه اورشليم ته کډه وکړه هغه نورې ښځې او
وينځې وکړې او نور زامن او لورګانې يې پيدا شول. ١٤ دا د داود اولادونه دي چې په
اورشليم کې زېږېدلي دي: شموع، شوباب، ناتان، سليمان، ١٥ ايبحار، اليشوع، نفج، يافيع،
١٦ اليشمع، الياداع او اليفلط.

## داود او د فلسطينيانو ماتې

(اول تواريخ ١٤: ٨ – ١٧)

١٧ کله چې فلسطينيانو واورېدل چې داود د اسراييلو پادشاه شوی دی، هغوی په پوره
ځواک سره ووتل چې داود ونيسي. مګر داود د دې څخه خبر شو او محفوظ ځای ته لاړ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(١٨) نو فلسطينيان راغلل او د رفايم په دره کې يې مورچلې ونيولې. (١٩) داود د څښتن
څخه پوښتنه وکړه: <آيا په فلسطينيانو باندې حمله وکړم؟ آيا ماته به برى راکړې؟>

څښتن ځواب ورکړ: <هو، ورباندې حمله وکړه! زه به په يقين سره تاته برى درکړم!>

(٢٠) نو داود بعل فراصيم ته لاړ او هلته يې فلسطينيانو ته ماتې ورکړه. هغه وويل: <څښتن
زما دښمنان د سيلاب په شان له منځه يوړل.> نو هغه ځاى د بعل فراصيم په نوم ياد شو.
(٢١) فلسطينيانو خپل بتان هلته پرېښودل، وروسته داود او د هغه نفرو هغه د ځان سره
يوړل.

(٢٢) فلسطينيان يو ځل بيا لاړل او د رفايم په دره کې يې مورچلې ونيولې. (٢٣) داود يو
ځل بيا د څښتن سره مشوره وکړه، څښتن ځواب ورکړ: <له دې ځاى څخه حمله مه کوه،
بلکه د شا له خوا ورباندې راتاو شه او د بلسام ونو ته مخامخ په هغوى باندې حمله وکړه.
(٢٤) کله چې دې د بلسام د ونو په سر کې د قدمونو اواز واورېد نو بيا په بيړه حمله وکړه،
ځکه چې دا به دا معنیٰ ولري چې زه ستا په مخ کې روان يم چې د فلسطينيانو لښکرو ته
ماتې ورکړم.> (٢٥) نو څنګه چې څښتن داود ته حکم کړى ؤ هماغسې يې وکړل او
فلسطينيان يې د جبع څخه تر جازر پورې په ټوله لاره کې تعقيب کړل او ويې وژل.

## د لوظ صندوق اورشليم ته راوړل کيږي

(اول تواريخ ١٣: ١ – ١۴، ١۵: ٢۵ – ١۶: ۶، ۴٣)

۶ (١) داود يو ځل بيا د اسراييلو غوره شوي عسکر راغونډ کړل، چې شمېر يې دېرش
زره تنه وو. (٢) هغوى ته يې لاربښوونه وکړه چې د يهودا بعلې ته لاړ شي د دې دپاره
چې له هغه ځاى څخه د خداى د لوظ صندوق راوړي. په صندوق باندې د مطلق قادر
څښتن نوم دى او په هغه باندې د کروبيانو مجسمې دي چې د څښتن تخت د دې مجسمو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاسه دی. ۳ هغوی د خدای د لوظ صندوق د غوایانو په یوې نوې ګاډۍ کې کېښود او
هغه یې د ابیناداب د کور څخه چې په غونډۍ باندې ؤ راوړ. د ابیناداب زامنو عزه او اخیو د
ګاډۍ د لارښوونې دپاره د هغې سره تلل ۴ او اخیو د ګاډۍ په مخکې روان ؤ. ۵
داود او نورو ټولو اسراییلیانو په خپل ټول توان سره څښتن ته د درناوي په خاطر نڅا ګانې
کولې او سندرې یې ویلې. هغوی رباب، چمبه، چنګ او تال غږاوه.

۶ څنګه چې دوی د ناکون درمند ځای ته ورسېدل، غوایان وښوئېدل او عزه خپل لاس
وراوږد کړ او د لوظ صندوق یې ونیوه. ۷ څښتن په عزه باندې د هغه د بې پروایی په
خاطر ډېر په قهر شو. د دې ګناه له امله څښتن هغه وواژه او هغه د خدای د لوظ د صندوق
په څنګ کې مړ شو. ۸ نو داود په غصه شو ځکه چې څښتن په قهر سره عزه ته سزا
ورکړه او تر نن ورځې پورې هغه ځای د فارز عزه په نوم یادېږي.

۹ په هغه ورځ داود د څښتن څخه ډېر ووېرېده او ویې ویل: <اوس به څنګه وکولای
شم چې د څښتن د لوظ صندوق د ځان سره یوسم؟> ۱۰ نو هغه ونه غوښتل چې
صندوق د ځان سره د داود ښار ته یوسي. نو هغه خپله اصلي لاره پرېښوده او د هغه په
ځای یې صندوق د عوبید ادوم جتي کور ته یووړ. ۱۱ د څښتن صندوق درې میاشتې
هلته پاتې شو او څښتن عوبید ادوم او د هغه ټولې کورنۍ ته برکت ورکړ.

۱۲ داود پادشاه خبر شو چې څښتن عوبید ادوم، د هغه کورنۍ او شتمنۍ ته چې هغه
درلودله د لوظ د صندوق په خاطر برکت ورکړ. نو هغه د لوظ صندوق د عوبید ادوم له کور
څخه واخیست چې د یو لوی جشن په نیولو سره یې اورشلیم ته یوسي. ۱۳ کله چې هغو
نفرو چې د څښتن د لوظ صندوق یې انتقالاوه، شپږ قدمونه واخیستل، داود یو غویی او یو
چاغ خوسی قرباني کړل. ۱۴ داود د کتان پېشبند اغوستی ؤ او په خپل ټول توان سره یې
څښتن ته د درناوي په خاطر نڅا کوله. ۱۵ نو داود او ټولو اسراییلیانو د خوشالۍ په چیغو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د سرنيو په اواز سره د څښتن د لوظ صندوق اورشليم ته راوړ.

۱۶ کله چې صندوق د داود ښار ته راوړل شو، د شائول لور ميکال له کړکۍ څخه وکتل
او وې ليدل چې داود پادشاه د څښتن په مخ کې ټوپونه وهي او نڅا کوي، نو هغه يې په
خپل زړه کې سپک وګاڼه. ۱۷ هغوی د لوظ صندوق راوړ او هغه يې په هغې خېمه کې
کېښود چې داود د هغه دپاره ودرولې وه. وروسته بيا داود څښتن ته سوزېدونکې او د
سلامتۍ نذرانې وړاندې کړې. ۱۸ کله چې داود د نذرانو له وړاندې کولو څخه وزګار شو،
هغه د خلکو دپاره د مطلق قادر څښتن په نوم برکت وغوښت. ۱۹ هغه د اسراييلو ټول
ولس، هم سړيو او هم ښځو، هر يو ته، يوه ډوډۍ، يوه ټوټه غوښه او د مميزو يوه کلچه
ووېشله. بيا ټول خلک خپلو کورونو ته لاړل.

۲۰ کله چې داود خپل کور ته راستون شو چې د خپلې کورنۍ دپاره برکت وغواړي، د
هغه ښځه ميکال، د شائول لور د هغه مخې ته ورووتله او ورته وېې ويل: <د اسراييلو
پادشاه نن خپل نوم لوړ کړ او د خپلو خدمتګارانو د وينځو په نظر کې يې خپل ځان لکه د
يو احمق په شان لوڅ کړ.>

۲۱ داود ځواب ورکړ: <ما څښتن ته د درناوي په خاطر نڅا کوله، چې زه يې ستا د پلار
او د هغه د ټولې کورنۍ په ځای غوره کړی يم او زه يې د خپل قوم اسراييلو مشر جوړ کړی
يم. او زه به په راتلونکې کې هم د څښتن په مخکې خوشالي کوم. ۲۲ زه به خپل ځان له
دې څخه نور هم رسوا کړم. ښايي ستا باور به دا وي چې زه هيڅ هم نه يم، خو د دې
وينځو په خيال کې زه به د قدر وړ اوسم!>

۲۳ نو د مرګ تر ورځې پورې د شائول د لور ميکال اولاد پيدا نه شو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د داود سره د خدای وعده

(اول تواریخ ۱۷: ۱ – ۱۵)

۷ (۱) کله چې داود پادشاه په خپله ماڼۍ کې اوسېده او څښتن هغه ته د خپلو ټولو
دښمنانو څخه ارامي ورکړه، (۲) نو پادشاه ناتان نبي ته وویل: <ګوره، زه دلته په دې ماڼۍ
کې اوسېږم چې د صبر د ونې د لرګیو څخه جوړه شوې ده، مګر د خدای د لوظ صندوق په
خېمه کې ایښودل شوی دی.>

(۳) ناتان ځواب ورکړ: <هر څه چې ستا په زړه کې دي هغه وکړه، ځکه چې څښتن ستا
سره دی.>

(۴) مګر په هم هغه شپه څښتن ناتان ته وویل: (۵) <لاړ شه او زما خدمتګار داود ته
ووایه چې څښتن داسې وايي: ته هغه څوک نه یې چې زما د اوسېدلو دپاره کور جوړوې.
(۶) له هغه وخت څخه چې ما د اسراییلو قوم د مصر څخه راخلاص کړ، تر نن ورځې
پورې زه په کور کې نه یم اوسېدلی. زه یو ځای او بل ځای ګرځېدلی یم او په خېمه کې
اوسېدلی یم. (۷) ما د قوم مشران غوره کړل او ورته مې وویل چې د شپنو په شان زما د
قوم اسراییلو لارښوونه وکړي. مګر آیا کله مې د هغو څخه چاته ویلي دي چې د صبر د
ونې د لرګیو څخه دې ولې زما دپاره کور نه دی جوړ کړی؟

(۸) نو په دې خاطر زما خدمتګار داود ته ووایه چې مطلق قادر څښتن درته داسې وايي:
ما ته د پسونو د ساتلو د څړځای څخه راواخیستلې او د خپل قوم اسراییلو مشر مې
وټاکلې. (۹) هر چېرې چې ته تللې، زه به درسره وم. څنګه به چې ته پرمخ تللې، ما به
ستا ټول دښمنان له منځه وړل. اوس به زه تا د نړۍ د ډېرو لویو مشرانو په شان مشهور
کړم. (۱۰)-(۱۱) ما د خپل قوم اسراییلو دپاره ځای تیار کړ او هغوی مې هلته ځای په ځای
کړل، ترڅو هلته واوسېږي او نور وربانديې ظلم ونه شي. له هغه وخته چې مې قاضیان یعنې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشران د اسراییلو دپاره ټاکلي دي په هغوی باندې د بدکاره خلکو له خوا تېری شوی دی.
بیا به داسې ونه شي. همدارنګه به تا د خپلو ټولو دښمنانو څخه په امن کې وساتم.

زه به ستا اولاده هم پادشاهان کړم. ١٢ هغه ورځ چې ستا سترګې د دې نړۍ څخه پټې
شوې او د خپلو نیکونو سره ښخ شوې، زه به ستا د زامنو څخه یو پادشاه کړم او د هغه
پادشاهي به ټینګه وساتم. ١٣ هغه به هغه ځوک وي چې زما د نوم د سرلوړۍ دپاره به یو
کور جوړ کړي او د هغه پادشاهي به زه د تل دپاره ټینګه کړم. ١٤ زه به د هغه پلار یم او
هغه به زما زوی وي. کله چې هغه کومه غلطي وکړي نو زه به هغه ته داسې سزا ورکړم لکه
څنګه چې پلار خپل زوی ته په لښتې باندې سزا ورکوي. ١٥ مګر زه به د هغه څخه
خپله تلپاتې مینه پرې نه ږدم لکه څنګه چې مې د شائول څخه پرې اینبې وه، یعني هغه
ځوک چې ما لرې کړ ترڅو ته پادشاه شې. ١٦ ته به تل اولاده ولرې او زه به ستا
پادشاهي تل تر تله ټینګه کړم. ستا شاهي کورنۍ به هیڅکله پای ته ونه رسیږي.>

١٧ ناتان داود ته هغه هرڅه بیان کړل چې خدای ورته د په ذریعه رالیږلي وو.

## د داود د شکراني دعا

(اول تواریخ ١٧: ١٦ – ٢٧)

١٨ بیا داود پادشاه د لوظ د صندوق خېمې ته ورننوت، هلته د څښتن په حضور کې
کښېناست او دعا یې وکړه: <ای څښتن تعالیٰ! هغه څه چې تا پخوا زما سره کړي دي زه
او زما کورنۍ د هغې وړ نه یو. ١٩ خو بیاهم دا ستا په نظر کافي نه وو، ای څښتن تعالیٰ!
تا د راتلونکو کلونو دپاره هم زما د اولادې په هکله وعدې کړې دي. ای څښتن تعالیٰ! آیا
ته همیشه په همدې طریقه د انسان سره سلوک کوې؟ ٢٠ ای څښتن تعالیٰ! زه تاته نور
څه ویلای شم؟ ځکه چې ته ما یعني خپل خدمتګار پېژنې. ٢١ دا ستا وعده وه او ستا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقصد ۋ چې دا کار دې وکړ. تا دا لوی کارونه وکړل او هغه دې ماته ښکاره کړل. ۲۲ ای
څښتن تعالیٰ! ته څومره لوی یې. لکه څنګه چې مونږ تل اورېدلي دي، ستا په شان څوک
نشته او بې له تا بل خدای نشته. ۲۳ د ځمکې په مخ د اسراییلو په شان بل قوم نشته، هغه
قوم چې تا هغوی د مصر د غلامۍ څخه وژغورل، د دې دپاره چې هغه ستا خپل قوم شي.
د هغوی دپاره دې لوی او حیرانوونکي کارونه وکړل او خپل نوم دې په ټوله نړۍ کې
مشهور او لوړ کړ. تا نور قومونه او د هغوی خدایان د خپل قوم د وړاندې تګ سره سم
وشړل. ۲۴ اسراییل دې د تل دپاره خپل قوم غوره کړ او ای څښتنه، ته د هغوی خدای
شوې.

۲۵ ای څښتن خدایه! اوس هغه ژمنه د تل دپاره سرته ورسوه چې زما او زما د اولادې
په هکله دې کړې ده. هغه څه چې دې ویلي وو هماغسې وکړه. ۲۶ ستا نوم به لوی وي
او خلک به د تل دپاره وایي: مطلق قادر څښتن د اسراییلو خدای دی. بیا به زما د اولادې
پادشاهي د تل دپاره ټینګه کړې.

۲۷ ای مطلق قادر څښتنه، د اسراییلو خدایه! دا ټول تا ماته ښکاره کړي دي او ماته دې
وویل، چې زما د اولادې څخه به ته پادشاهان جوړ کړې، نو ځکه مې دا جرأت وکړ چې
تاته دا دعا وکړم. ۲۸ اوس ای څښتن تعالیٰ، ته په رښتیا خدای یې! ستا ژمنې د باور وړ
دي او تا د خپل خدمتګار سره د دې ښو شیانو ژمنه کړې ده. ۲۹ مهرباني وکړه زما
اولادې ته برکت ورکړه او پرېږده چې هغوی تل ستا غوره شوي پادشاهان وي. څښتنه، تا
پخوا وعده کړې ده او زه یقین لرم چې ته به زما کورنۍ ته د تل دپاره برکت راکړې.>

## د داود بریالیتوبونه

(اول تواریخ ۱۸: ۱ – ۱۳)



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ ① څه موده وروسته داود بیا فلسطینیانو ته ماتې ورکړه، هغوی یې کمزوري کړل او
په هغه سیمه باندې یې د هغوی واکمنۍ پای ته ورسوله.

② همدارنګه داود موآبیانو ته هم ماتې ورکړه. داود په هغوی باندې امر وکړ چې د
ځمکې په مخ څنګ په څنګ په یوه قطار څملي. وروسته بیا یوه اندازه نیوونکې رسۍ په
واسطه یې په درې برخو ووېشل. هرې دوه برخې یې ووژلې او هره درېمه برخه یې ژوندۍ
پرېښودله. نو موآبیان د هغه رعیت شول او باج به یې ورکاوه.

③ برسېره پردې داود د صوبې د پادشاه د رحوب زوې هددعزر ته ماتې ورکړه.
(هددعزر د فرات د سیند د پورتنۍ سیمې ته روان ؤ ترڅو د هغه ځای واکمني بېرته تر
لاسه کړي.) ④ داود د هغه څخه یو زر او اووه سوه سپاره او شل زره پیاده عسکر
ونیول. هغه د سلو جنګي ګاډیو دپاره اسونه وساتل او نور ټول یې ګوډ کړل.

⑤ کله چې د دمشق ارامیانو د هددعزر پادشاه د مرستې دپاره لښکر ورولېږه، داود په
هغوی باندې حمله وکړه او دوه ویشت زره ارامیان یې ووژل. ⑥ بیا هغه د دمشق د ارام
په پادشاهۍ کې عسکرې قرارګاوې جوړې کړې او ارامیان د هغه رعیت شول او باج یې
ورکاوه. هر چېرته چې به داود لاړ څښتن هغه ته بری ورکاوه.

⑦ داود د هددعزر د عسکرې منصبدارانو د سرو زرو سپرونه واخیستل او هغه یې
اورشلیم ته راوړل. ⑧ داود پادشاه د باته او بیروتای څخه چې د هددعزر ښارونه وو په
زیاته اندازه برنجي فلز لاس ته راوړل.

⑨ د حمات پادشاه توعي واورېدل چې داود د هددعزر ټول لښکر ته ماتې ورکړې ده.
⑩ نو هغه خپل زوی یورام داود پادشاه ته ورولېږه چې هغه ته سلام ووایي او په جګړه
کې په هددعزر باندې د هغه د بریالیتوب مبارکي ووایي. هددعزر ډېر ځلې د توعي سره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جنګېدلی ؤ. یورام داود ته سوغاتونه یعني د سرو زرو، سپینو زرو او برنجي شیان د ځان
سره راوړل.

۱۱ داود پادشاه هغه شیان د هغو سپینو او سرو زرو سره یوځای څښتن ته وقف کړل چې
د هغو قومونو څخه یې لاس ته راوړي وو چې په هغو باندې یې بری ترلاسه کړی ؤ، ۱۲
یعني د ادومیانو، موآبیانو، عمونیانو، فلسطینیانو او عمالیقیانو څخه. همدارنګه هغه غنیمت
چې د هددعزر د صوبې د پادشاه څخه یې نیولی ؤ یوه برخه یې څښتن ته وقف کړله.

۱۳ کله چې داود د مالګې په دره کې د اتلسو زرو ادومیانو د وژلو څخه راستون شو، هغه
نور هم مشهور شو. ۱۴ هغه په ټول ادوم کې عسکري قرارګاوې جوړې کړې او ټول
ادومیان د داود رعیت شول. داود به چې هر چېرته لاړ څښتن به ورته بری ورکاوه.

## د داود درباریان

(اول تواریخ ۱۸: ۱۴ – ۱۷)

۱۵ داود په ټولو اسراییلو باندې پادشاهي کوله او خپلو ټولو خلکو دپاره یې په عدل او
انصاف سره کارونه کول. ۱۶ یوآب د زرویه زوی د لښکرو عمومي قوماندان ؤ. یهوشافاط
د اخیلود زوی د اطلاعاتو وزیر ؤ. ۱۷ صادوق د اخیطوب زوی او اخیملک د ابیاتار
زوی کاهنان وو. سرایا د دربار منشي ؤ. ۱۸ بنایاه د یهویاداع زوی د داود د ساتونکو
ګارډ یعني کریتیانو او فلیتیانو قوماندان ؤ او د داود زامن کاهنان وو.

## داود او مفیبوشت

۹ ۱ یوه ورځ داود پوښتنه وکړه: <آیا د شائول د کورنۍ څخه څوک پاتې دی؟ که



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چېرې وي نو زه به د یوناتان په خاطر ورسره مهرباني وکړم.>

٢ نو د شائول د کورنۍ یو خدمتګار ؤ چې صیبا نومېده. هغه یې د داود حضور ته راوغوښت او پادشاه هغه ته ووېل: <آیا ته صیبا یې؟>

هغه ځواب ورکړ: <هو، اعلیحضرته، زه یم.>

٣ پادشاه د هغه څخه پوښتنه وکړه: <آیا د شائول د کورنۍ څخه څوک پاتې دی چې هغه ته د خدای احسان ښکاره کړم لکه څنګه چې ما د خدای سره وعده کړې ده چې زه به داسې کوم؟>

صیبا ځواب ورکړ: <د یوناتان د زامنو څخه یو پاتې دی، چې هغه په دواړو پښو شل دی.>

٤ پادشاه پوښتنه وکړه: <هغه چېرته دی؟>

صیبا ځواب ورکړ: <په لودبار کې د عمیئیل د زوی ماخیر په کور کې دی.> ٥ نو داود پادشاه هغه راوغوښت.

٦ کله چې د یوناتان زوی او د شائول لمسی مفیبوشت داود ته راغی، هغه ته د درناوي په خاطر پړمخې پرېوت. داود ووېل: <ای مفیبوشته!>

هغه ځواب ورکړ: <ستاسو غلام یم>.

٧ داود هغه ته ووېل: <مه وېرېږه، ځکه چې زه به ستا د پلار یوناتان په خاطر په تا باندې مهرباني وکړم. ستا د نیکه شائول ټوله ځمکه به بېرته درکړم او ته به تل زما په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دسترخوان باندې ډوډۍ خورې.>

٨ مفیبوشت یو ځل بیا پړمخې پرېوت او ویې ویل: <اعلیحضرته! زما نه خو یو مړ سپی
هم ښه دی، تاسو ولې زما سره دومره ښه کوئ؟>

٩ وروسته بیا پادشاه د شائول خدمتګار صیبا راوغوښت او ورته ویې ویل: <ما ټول
هغه شیان چې د شائول او د هغه د کورنۍ وو، ستا بادار یعنې د شائول لمسي مفیبوشت ته
ورکړل. ١٠ ته، ستا زامن او ستا خدمتګاران دې ستا د بادار شائول د کورنۍ دپاره ځمکه
وکرئ او حاصل يې راوړئ چې د هغوی دپاره خوراړه تیار شي. مګر خپله مفیبوشت به تل
زما په دسترخوان باندې ډوډۍ خوري.> (صیبا پنځلس زامن او شل نوکران درلودل.)

١١ صیبا ځواب ورکړ: <اعلیحضرته! څه چې تاسو حکم کوئ زه به هماغسې وکړم.> نو
مفیبوشت به لکه د پادشاه د یو زوی په شان د داود په دسترخوان باندې ډوډۍ خوړله. ١٢
د مفیبوشت یو وړوکی زوی ؤ چې میکا نومېده. د صیبا د کور ټول اوسېدونکي د مفیبوشت
خدمتګاران شول. ١٣ نو مفیبوشت چې شل ؤ په اورشلیم کې اوسېده او د پادشاه په
دسترخوان باندې يې تل ډوډۍ خوړله.

## د داود له خوا د عمونیانو او د سوریایانو ماتې

(اول تواریخ ١٩: ١ – ١٩)

١٠ ١ څه موده وروسته د عمونیانو پادشاه ناحاش مړ شو او د هغه زوی حانون د
هغه په ځای پادشاه شو. ٢ داود پادشاه وویل: <زه به د حانون سره داسې وفادارانه
دوستي وکړم لکه څنګه چې د هغه پلار ناحاش زما سره کړې وه.> نو داود خپل استازي
ولېږل چې د هغه له خوا څخه د خواخوږۍ مراتب وړاندې کړي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مګر کله چې هغوی عمون ته ورسېدل، ۳ د عمونیانو مشرانو خپل پادشاه حانون ته
وویل: <آیا تاسو فکر کوئ چې داود په رښتیا دا استازي ستاسو پلار ته د عزت ورکولو
دپاره رالېږلي دي؟ آیا هغه ستاسو سره دومره خواخوږي لري؟ البته چې نه! هغوی یې دلته
د جاسوسی لپاره رالېږلي چې زمونږ ښار وګوري، ترڅو چې هغه فتح کړي.>

۴ نو حانون د داود استازي ونیول، د هغوی یوه خوا ږیره یې وخریله، کالي یې د پښو نه
تر ملا پورې پرې کړل او رخصت یې کړل. ۵ هغوی ډېر شرمېدل چې کور ته راستانه
شي. کله چې داود د دې پېښې څخه خبر شو نو هغوی ته یې خبر ورولېږه: <تر هغې پورې
د اریحا په ښار کې پاتې شئ چې ستاسو ږیرې اوږدې شي او بیا بېرته کور ته راشئ.>

۶ عمونیان په دې پوه شول چې دوی داود خپل دښمن کړ، نو هغوی شل زره ارامي
عسکر د بیت رحوب او صوبې څخه، دولس زره نفره د طوب څخه او د معکې پادشاه یې د
زرو نفرو سره اجیر ونیول. ۷ داود د دې څخه خبر شو او یوآب یې د ټول لښکر سره د
هغوی مقابلې ته ورولېږه. ۸ عمونیان راووتل او د خپل پایتخت ربه د دروازې په خوله
کې ځای په ځای شول. په هغه وخت کې د صوبې او رحوب ارامیان او د طوب او معکې
عسکر په صحرا کې ځای په ځای شول.

۹ یوآب ولیدل چې د دښمن لښکر به په هغه باندې مخامخ او د شا له خوا حمله وکړي،
نو هغه د اسراییلو د عسکرو څخه ډېر ښه عسکر وټاکل او هغوی یې ارامیانو ته مخامخ
ځای په ځای کړل. ۱۰ یوآب د خپلو لښکرو پاتې نفر د خپل ورور ابیشای تر قوماندې
لاندې ورکړل او ابیشای هغوی د عمونیانو په مقابل کې ځای په ځای کړل. ۱۱ یوآب هغه
ته وویل: <که چېرې تا ولیدل چې ارامیانو ماته ماتې راکوله نو راشه او زما سره مرسته
وکړه او که چېرې عمونیانو تاته ماتې درکوله نو زه به درشم او ستا سره به مرسته وکړم.
۱۲ قوي او زړور اوسه! راځه چې د خپل قوم او د خدای د ښارونو دپاره په مېړانه او زړه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورتیا سره وجنګېږو. څه چې د څښتن رضا وي هغه دې وشي!>

(۱۳) نو یوآب او د هغه سرې مخکې لاړل چې حمله وکړي او ارامیان وتښتېدل. (۱۴) کله
چې عمونیانو ولیدل چې ارامیان تښتي، هغوی د ابیشای څخه وتښتېدل او ښار ته ننوتل. نو
یوآب د عمونیانو سره د جنګ کولو څخه راستون شو او بېرته اورشلیم ته لاړ.

(۱۵) کله چې ارامیان پوه شول چې دوی ته اسراییلو ماتې ورکړه نو هغوی خپلې لښکرې
بېرته سره راغونډې کړې. (۱۶) هددعزر پادشاه نور ارامیان راوغوښتل چې د فرات د سیند
په ختیځه خوا کې وو. هغوی د پادشاه د قوماندان شوبک تر امر لاندې حیلام ته راغلل.
(۱۷) کله چې داود دا واورېدل، هغه د اسراییلو ټولې لښکرې سره راغونډې کړې، د اردن د
سیند څخه تېر شو او حیلام ته ورغی. ارامیان هلته هغه ته مخامخ ځای په ځای کېدل، بیا
وروسته جګړه پیل شوه. (۱۸) خو د ارامیانو لښکرې د اسراییلیانو څخه وتښتېدلې. داود او
د هغه سپرو عسکرو د ارامیانو اووه سوه د جنګي ګاډیو چلوونکي او څلوېښت زره سپاره
عسکر ووژل. هغوی د دښمن قوماندان شوبک ژوبل کړ او هغه د جنګ په میدان کې مړ شو.
(۱۹) کله چې هغه پادشاهان چې د هددعزر تابع وو ولیدل چې دوی د اسراییلو له خوا
ماتې وخوړله نو د اسراییلو سره یې سوله وکړه او د هغوی رعیت شول. نو ارامیان د
عمونیانو سره نور د کومک کولو څخه وویرېدل.

## داود او بتشبع

۱۱ (۱) د بل کال په پسرلي، یعنې د کال په هغه وخت کې چې معمولاً پادشاهان
جنګ ته ځي، داود ټولې د اسراییلو لښکرې د یوآب او د هغه د افسرانو د قوماندې لاندې
جګړې ته ولېږلې. دوی عمونیان له منځه یوړل او د ربه ښار یې محاصره کړ، مګر داود په
اورشلیم کې پاتې شو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۲) یوه ورځ د مازدیګر په وخت کې داود له بستر څخه راپاڅېده او د ماڼۍ په بام باندې
ګرځېده. له بامه څخه یې یوه ښځه ولیدله چې غسل یې کاوه. هغه ډېره ښکلې وه. (۳) نو
داود یو نفر ولېږه چې دا معلومات وکړي چې هغه څوک ده. دا معلومه شوه چې هغه بتشبع
د الیعام لور او د حیتي اوریا ښځه ده. (۴) نو داود استازي ورولېږل چې هغه راولي، هغه
یې راوستله او داود ورسره څملاست. (هغې ښځې د خپل میاشتیني عادت څخه د پاکوالي
په خاطر غسل کاوه.) وروسته هغه بېرته کور ته لاړه. (۵) د څو مودې نه وروسته هغه پوه
شوه چې امیدواره ده او داود ته یې خبر ولېږه چې د دې خبرې نه خبر شي.

(۶) نو داود یوآب ته پیغام ولېږه: <حیتي اوریا ماته راولېږه.> نو یوآب اوریا هغه ته
ورولېږه. (۷) کله چې اوریا ورغی داود د هغه څخه د یوآب او د لښکرو د سلامتۍ او د
جنګ د حال پوښتنه وکړه. (۸) بیا هغه اوریا ته وویل: <خپل کور ته لاړ شه او یو څه
ارام وکړه.> اوریا د ماڼۍ څخه لاړ او داود د هغه کور ته یو سوغات ورولېږه. (۹) مګر
اوریا خپل کور ته لاړ نه شو او د پادشاه د ګارډ سره د ماڼۍ په دروازه کې ویده شو. (۱۰)
کله چې داود واورېدل چې اوریا کور ته نه دی تللی، د هغه څخه یې پوښتنه وکړه: <تا
ډېره لاره وهلې ده، ته ولې کور ته نه یې تللی؟>

(۱۱) اوریا ځواب ورکړ: <د اسراییلو او یهودا نفر په جونګړو کې اوسېږي او د لوظ
صندوق د هغوی سره دی. زما قوماندان یوآب او د هغه عسکري منصبدارانو په صحرا کې
خېمې درولې دي. زه څنګه خپل کور ته لاړ شم، وخورم، وڅښم او د خپلې ښځې سره
څملم؟ زه ستا په ژوند قسم خورم چې زه به هیڅکله داسې ونه کړم!>

(۱۲) نو داود هغه ته وویل: <یوه ورځ نور هم دلته پاتې شه او سبا به دې بېرته ولېږم.> نو
اوریا هغه ورځ او راتلونکې ورځ هم په اورشلیم کې پاتې شو. (۱۳) داود هغه د ماښام
ډوډۍ ته راوغوښت او هغه یې نېشه کړ. مګر ماښام اوریا ووت او د پادشاه د ګارډ سره په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې بسترې باندې ويده شو او کور ته لاړ نه شو.

(۱۴) په راتلونکې سهار داود يوآب ته خط وليکه او د اوريا په لاس يې ورولېږه. (۱۵) هغه
ليکلي وو: <اوريا په سخته جګړه کې په لومړي کرښه کې ځای په ځای کړه بيا د هغه څخه
بېرته په شا شئ ترڅو هغه ووژل شي.> (۱۶) نو کله چې يوآب ښار محاصره کاوه نو اوريا
يې هغه ځای ته ولېږه چې هغه پوهېده هلته دښمن قوي دی. (۱۷) د دښمن ځواکونه د ښار
څخه راووتل او د يوآب د ځواکونو سره وجنګېدل. د داود څو تنه عسکري منصبداران د
اوريا سره يوځای ووژل شول.

(۱۸) بيا يوآب داود ته د جنګ په باره کې پوره راپور ولېږه (۱۹) او استازي ته يې داسې
لارښوونه وکړه: <وروسته له دې چې ته پادشاه ته د جنګ په هکله هرڅه بيان کړې، (۲۰)
که دې وليدل چې پادشاه په قهر شو او ستا څخه يې پوښتنه وکړه: تاسو ولې د هغوی سره د
جنګ دپاره ښار ته دومره نږدې ورغلي وئ؟ آيا تاسو په دې نه پوهېدلئ چې هغوی به د
دېوالونو څخه غشي ګوزار کړي؟ (۲۱) آيا ستاسو په ياد نه دي چې ابيملک د جدعون
زوی څنګه ووژل شو؟ په تاباز کې يوې ښځې د دېوال څخه د ژرندې پاسنی پل
راوغورزاوه او هغه يې وواژه، نو بيا تاسو ولې دېوال ته دومره نږدې ورتللئ؟ که پادشاه ستا
څخه دا پوښتنه وکړه، نو هغه ته ووايه: ستاسو عسکري منصبدار اوريا هم وژل شوی دی.>

(۲۲) نو استازی داود ته ورغی او هرڅه چې يوآب ورته ويلي وو هغه يې خبر کړ. (۲۳)
هغه وويل: <زمونږ دښمنان زمونږ څخه ډېر زيات قوي وو او د ښار څخه راووتل چې
زمونږ سره په صحرا کې جګړه وکړي، مګر مونږ هغوی بېرته د ښار دروازې ته په شا
وتمبول. (۲۴) بيا غشي ويشتونکو د دېوال څخه په مونږ باندې غشي وويشتل. اعليحضرته!
ستاسو د عسکري منصبدارانو څخه څو تنه ووژل شول او د هغوی سره اوريا هم ووژل
شو.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ داود استازي ته وويل: <یوآب وهخوه او هغه ته ووايه چې مه پريشانه کېږه ځکه
چې ته هيڅکله دا نه شې ويلی چې څوک به په جګړه کې ووژل شي. هغه ته ووايه چې په
ښار باندې قوي حمله پيل کړه او هغه له منځه يوسه.>

۲۶ کله چې د اوريا ښځې واورېدل چې د هغې مېړه مړ شوی دی، نو د هغه دپاره يې وير
وکړ. ۲۷ کله چې د وير مراسم پای ته ورسېدل، داود هغه ماڼۍ ته راوغښتله. هغه د داود
ښځه شوه او هغه ته يې زوی وزېږاوه. مګر څښتن د دې ناوړه کار څخه چې داود کړی ؤ
راضي نه ؤ.

## د ناتان پيغام او د داود توبه

۱۲ ۱ څښتن ناتان نبي داود ته ورولېږه. ناتان هغه ته ورغی او ورته ويې ويل: <په
يوه ښار کې دوه سړي اوسېدل، يو شتمن ؤ او بل غريب ؤ. ۲ شتمن سړي ډېرې زياتې
رمې او پادې درلودلې. ۳ مګر غريب سړي له يوې وړې ورۍ څخه پرته چې هغه يې په
بيه اخيستې وه نور هيڅ نه درلودل. د هغې پالنه يې کوله او د هغه د ماشومانو سره په کور
کې لويېدله. سړي به د خپلو لږو خوړو څخه هغې ته خواړه ورکول او ورۍ به د سړي د
کاسې څخه څښاک کاوه او د ده په غېږ کې به ځملاستله. هغه ته د لور په شان ګرانه وه.
۴ يوه ورځ د هغه شتمن سړي کور ته يو مسافر راغی، شتمن سړي نه غوښتل چې د
خپلو رمو يا پادو څخه کوم حيوان حلال کړي چې د هغه دپاره ډوډۍ تياره کړي. د هغه په
ځای يې د هغه غريب سړي ورۍ ونيوله او د خپل مېلمه دپاره يې کباب کړه.>

۵ داود په هغه شتمن سړي باندې ډېر په قهر شو او ويې ويل: <زه د ژوندي څښتن په
نوم قسم خورم هغه چا چې دا کار کړی دی د مرګ د سزا وړ دی! ۶ په دې خاطر چې
هغه داسې بې رحمه کار کړی دی، هغه بايد د هغې ورۍ په ځای څلور چنده بېرته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړي.>

۷ ناتان داود ته وويل: <هغه سړی ته يې! د اسراييلو خښتن خدای داسې وايي: ته مې د
اسراييلو پادشاه وټاکلې او د شائول څخه مې وژغورلې. ۸ د هغه پادشاهي مې تاته
دروبخښله او د هغه ښځې مې تاته په غېږ کې درکړې، ته مې په اسراييلو او يهودا باندې
پادشاه کړې. که چېرې دا ستا دپاره بس نه وو نو ما به له دې څخه نور هم زيات درکړي
وای. ۹ ولې دې د خښتن حکمونه سپک وګڼل او د هغه په نظر کې دې داسې بد کار
وکړ؟ تا اوريا داسې قتل کړ چې عمونيان دې پرېښودل چې هغه په جګړه کې ووژني. ۱۰
اوس، له دې کبله چې تا ماته په سپکه سترګه کتلي دي او د اوريا د ښځې سره دې واده
کړی دی، نو په هر نسل کې به ستا ځيني اولادې د تاوتريخوالي په وجه باندې مړې شي.

۱۱ خښتن داسې وايي: زه به ستا د خپلې کورنۍ څخه په تا باندې عذاب راولم. ستا د
سترګو په وړاندې به ستا ښځې واخلم او يو بل سړي ته به يې ورکړم او هغه به په رڼا ورځ
ستا د ښځو سره خملي. ۱۲ تا دا کار په پټه وکړ، مګر زه به دا کار په رڼا ورځ د ټولو
اسراييليانو په مخ کې وکړم.>

۱۳ داود ناتان ته وويل: <ما د خښتن په مقابل کې ګناه کړې ده.>

ناتان ځواب ورکړ: <خښتن ته بخښلې يې، ته به د دې ګناه له کبله مړ نه شې. ۱۴ مګر تا
د دې بد کار له کبله د خښتن ډېره بې عزتي وکړه. نو ستا ماشوم به مړ شي.> ۱۵ له هغې
وروسته ناتان کور ته لاړ.

## د داود د زوی مړينه

خښتن هغه ماشوم چې د اوريا کونډې داود ته زېږولی ؤ په سختې ناروغی اخته کړ. ۱۶



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داود د هغه ماشوم دپاره خدای ته زاری وکړې چې ماشوم روغ شي. هغه روژه ونیوله او
هره شپه به د خپلې کوټې ته تله او ټوله شپه به یې په ځمکه تېروله. ⑰ د داود د ماڼۍ د
خدمتګارانو مشران د هغه په سر ودرېدل او هیله یې وکړه چې هغه به له ځمکې څخه
راپاڅېږي او د هغوی سره ډوډۍ وخوري، خو هغه انکار وکړ.

⑱ په اوومه ورځ هغه ماشوم مړ شو. د داود خدمتګاران ووېرېدل چې هغه ته خبر
ورکړي، ځکه چې دوی وویل: <هغه وخت چې ماشوم لا ژوندی ؤ مونږ به د داود سره
خبرې کولې او هغه مونږ ته ځواب نه راکاوه. نو څنګه به هغه ته ووایو چې د ده ماشوم مړ
شوی دی؟ کېدای شي چې هغه خپل ځان ته کوم زیان ورسوي.>

⑲ داود ولیدل چې د هغه خدمتګاران په خپل منځ کې ګونګوسي کوي او پوه شو چې
ماشوم یې مړ شوی دی. نو د هغوی څخه یې پوښتنه وکړه: <آیا ماشوم مړ شوی دی؟>

هغوی ځواب ورکړ: <هو، هغه مړ شوی دی.>

⑳ په هغه وخت کې داود له ځمکې څخه راپاڅېد. وروسته له هغې چې خپل ځان یې
ومینځه، عطر یې وواهه او خپل کالي یې بدل کړل، هغه د څښتن کور ته لاړ او عبادت یې
وکړ. بیا هغه خپلې ماڼۍ ته راستون شو او هغوی د ده په غوښتنه ډوډۍ ورته تیاره کړه او
هغه یې وخوړله. ㉑ د هغه خدمتګاران حیران شول او ورته ویې ویل: <مونږ په دې نه
پوهېږو، کله چې ماشوم ژوندی ؤ تاسو د هغه دپاره ژړل او څه مو نه خوړل. مګر څنګه
چې هغه مړ شو راپاڅېدلئ او ډوډۍ مو وخوړله!>

㉒ داود وویل: <کله چې ماشوم ژوندی ؤ ما روژه ونیوله او ژړل مې، ما فکر کاوه:
کېدای شي چې څښتن په ما باندې رحم وکړي او ماشوم به ژوندی وساتي. ㉓ مګر اوس
چې هغه مړ شوی دی، ولې روژه ونیسم؟ آیا زه کولی شم چې هغه بېرته راژوندی کړم؟ زه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ته ورتلونکی یم، مګر هغه به هیڅکله بېرته ماته رانه شي.>

## د سلیمان زېږېدنه

۲۴ وروسته بیا داود خپلې ښځې بتشبع ته تسلي ورکړه او د هغې سره څملاست. هغې
زوی وزېږاوه او داود ورباندې سلیمان نوم کېښود. څښتن د هغه ماشوم سره مینه کوله ۲۵
له دې کبله څښتن د ناتان نبي په وسیله پیغام ورولېږه ترڅو په هغه باندې د یدیدیا نوم
کېږدي.

## داود د ربې ښار فتح کوي

(اول تواریخ ۲۰: ۱ – ۳)

۲۶ په دې ترڅ کې یوآب د عمونیانو په پایتخت ربه باندې جګړه وکړه او شاهي کلا یې
ونیوله. ۲۷ یوآب داود ته استازي ورولېږل ویې ویل: <د ربه په مقابل کې وجنګېدم او د
اوبو زېرمه مې ونیوله. ۲۸ نو اوس خپلې پاتې لښکرې راغونډې کړه، ښار محاصره او بیا
یې فتح کړه. که نه، نو زه به ښار فتح کړم او زما په نوم به یاد شي.> ۲۹ نو داود ټول
پاتې لښکر راغونډ کړ او ربه ته لاړ، حمله یې ورباندې وکړه او هغه یې فتح کړه. ۳۰ داود
د عموني پادشاه د سر څخه د سرو زرو تاج واخیست چې قیمتي تیږه په کې وه او شاوخوا
څلوردېرش کیلوګرامه وزن یې درلود. داود هغه تاج راواخیست او په خپل سر یې کېښود.
همدارنګه هغه د هغه ښار څخه په زیاته اندازه غنیمت ونیوه. ۳۱ د هغه ځای خلک یې
راوویستل، هغوی یې په ارو، کلنګونو او تبرونو سره په سختو کارونو باندې وګمارل او
مجبور یې کړل چې د خښتو په داشونو کې کار وکړي. هغه د عمون د ټولو ښارونو د خلکو
سره همدغه شان عمل وکړ. وروسته بیا داود او د هغه ټول لښکر اورشلیم ته ستانه شول.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## امنون او تامار

١٣ ١ د وخت په تېرېدو سره د داود زوی امنون په تامار باندې چې د داود د بل
زوی ابشالوم خور وه او ډېره ښکلې وه مين شو. ٢ د امنون زړه د خپلې ناسکه خور
تامار په سبب داسې پريشانه شو چې هغه ناروغ شو. ځکه چې تامار پېغله وه او د امنون
دپاره دا ناشونی کار ؤ چې د هغې سره اړيکې ولري.

٣ د امنون يو ملګری ؤ چې يوناداب نومېده او د داود د ورور شمعي زوی ؤ. يوناداب
ډېر مکرجن سړی ؤ. ٤ هغه د امنون څخه پوښتنه وکړه: <ای د پادشاه زويه! ولې ورځ
په ورځ ډنګرېږې؟ څه خبره ده؟>

امنون ځواب ورکړ: <زه د خپل ورور ابشالوم په خور تامار باندې مين شوی يم.>

٥ يوناداب ووېل: <په خپله بستره کې څمله او دا بهانه وکړه چې ناروغ يې. کله چې
پلار دې پوښتنې ته راغی هغه ته ووايه: مهرباني وکړه زما خور تامار پرېږده چې راشي او
ماته يو څه راکړي چې وې خورم. هغه دې زما په مخ کې ډوډۍ تياره کړي چې زه هغه
وليدلی شم او بيا يې ماته په خپل لاس راکړي.> ٦ نو امنون بهانه وکړه چې ناروغ دی
او هغه څملاست. کله چې پادشاه د هغه پوښتنې ته راغی، امنون ورته ووېل: <مهرباني
وکړئ تامار ته اجازه ورکړئ چې راشي، دلته زما په مخ کې يو څه خاصه ډوډۍ پخه کړي
او هغه دې ماته په خپل لاس راکړي.>

٧ داود تامار ته چې په ماڼۍ کې وه خبر ورولېږه: <د خپل ورور امنون کور ته ورشه او
د هغه دپاره يو څه خواړه تيار کړه.> ٨ نو تامار هلته لاړه او وې ليدل چې امنون په
بستره کې پروت دی. هغې يو څه خميره کړې اوړه راواخيستل، د هغه په مخ کې يې ډوډۍ
جوړه کړه او هغه يې پخه کړه. ٩ بيا يې تبۍ راواخيسته او امنون ته يې ډوډۍ کېښوده،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مګر هغه د خوړلو ښخه انکار وکړ. امنون وویل: <تاسو ټول له دې ځايه بیرون ووځئ!> نو ټول ووتل. ١٠ له هغې وروسته امنون تامار ته وویل: <دلته زما د خوب کوټې ته ډوډۍ راوړه چې ستا د لاس ښخه يې وخورم.> هغې ډوډۍ راواخیستله او د هغه د خوب کوټې ته ورغله. ١١ مګر هغه وخت چې تامار ډوډۍ وروړه چې ويې خوري، امنون هغې ته لاس وروا‌چاوه او ورته ويې ویل: <ای زما خوري، راشه او راسره ښمله.>

١٢ تامار هغه ته وویل: <ای زما وروره! دا کار مه کوه، ما مه مجبوروه! داسې کار په اسراییلو کې یو جنایت دی. داسې احمقانه کار مه کوه! ١٣ زه به بیا په خلکو کې سر ښنګه اوچتوم؟ او ته به په اسراییلو کې د بدکارو احمقانو په شان بې عزته شې. مهرباني وکړه د پادشاه سره خبرې وکړه، هغه به تا زما سره د واده کولو ښخه منع نه کړي.> ١٤ مګر امنون د هغې خبرو ته غوږ ونه نیوه او څرنګه چې هغه د تامار ښخه ډېر قوي ؤ نو هغه يې په زوره بې عزته کړه.

١٥ بیا امنون د هغې ښخه ډېره سخته کرکه وکړه. د هغه کرکه د هغې مینې ښخه چې مخکې يې د هغې سره کوله ډېره زیاته وه. امنون هغې ته وویل چې <پاڅه او ورکه شه!>

١٦ هغې ورته وویل: <نه! زما شړل به د هغه کار ښخه هم لوی جرم وي چې مخکې دې زما سره وکړ.>

مګر امنون د هغې خبرو ته غوږ ونه نیوه. ١٧ هغه خپل شخصي خدمتګار راوغوښت او ورته ويې ویل: <دغه ښځه له دې ځايه ښخه بیرون وباسه او دروازه ورپسې وتړه.> ١٨ نو د هغه خدمتګار هغه بیرون وویستله او دروازه يې ورپسې وتړله.

تامار د اوږدو لستونو چپنه اغوستله، ځکه چې دا د پېغلو شهزادګیو رواجي لباس ؤ. ١٩ تامار په خپل سر باندې ایرې واچولې او خپله چپنه يې وشلوله. لاسونه يې په سر باندې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېښودل، په چیغو چیغو یې ژړل او روانه شوه. ۲۰ کله چې د هغې ورور ابشالوم هغه
ولیدله، پوښتنه یې ورځخه وکړه: <آیا امنون تاته لاس دراچولی دی؟ خورې، په دې باندې
دومره ډېره مه خفه کېږه. هغه ستا ورور دی، په دې باره کې هیچا ته څه ونه وایې.> نو
تامار د خپل ورور ابشالوم په کور کې پریشانه او یوازې اوسېدله.

۲۱ کله چې داود پادشاه واورېدل چې څه پېښ شوي دي، هغه ډېر په قهر شو. ۲۲
ابشالوم د امنون سره هیڅ یوه ښه یا بده خبره نه کوله. خو ابشالوم د هغه سره کینه درلودله
ځکه چې د هغه خور تامار یې په زوره بې عزته کړې وه.

## د ابشالوم بدله اخیستل

۲۳ پوره دوه کاله وروسته ابشالوم افرایم ته نژدې په بعل حاصور کې خپل پسونه
سکولودل او هغه د پادشاه ټول زامن هلته راوغوښتل. ۲۴ هغه داود پادشاه ته ورغی او
ویې ویل: <ای اعلیحضرته! زه خپل پسونه سکولم. آیا تاسو او ستاسو درباریان به راشئ او
په جشن کې به برخه واخلئ؟>

۲۵ خو پادشاه ځواب ورکړ: <نه، ای زویه، مونږ ټول به لاړ نه شو، ځکه چې په تا باندې
به بار شو.> که څه هم ابشالوم په هغه باندې ډېر ټینګار وکړ خو هغه نه غوښتل چې
ورسره لاړ شي، مګر د هغه دپاره یې برکت وغوښت.

۲۶ بیا ابشالوم وویل: <که تاسو نه شئ کولای لاړ شئ، لږ تر لږه پرېږدئ چې زما ورور
امنون زمونږ سره لاړ شي.>

پادشاه د هغه څخه پوښتنه وکړه: <ولې هغه درسره لاړ شي؟> ۲۷ مګر ابشالوم دومره
ټینګار وکړ ترڅو چې داود امنون او د هغه نورو ټولو زامنو ته اجازه ورکړه چې د ابشالوم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره لاړ شي. ۲۸ ابشالوم خپلو خدمتګارانو ته حکم وکړ: <وګورئ! کله چې امنون د شرابو په څښلو لږ نښه شو او زه تاسو ته ووايم چې هغه ووژنئ، نو مه وېرېږئ، زه به دا مسئوليت په خپله غاړه واخلم. زړور اوسئ او زړه نا زړه کېږئ مه.> ۲۹ نو د ابشالوم خدمتګارانو د هغه د حکم څخه پيروي وکړه او امنون يې وواژه. د داود نور ټول زامن په خپلو قچرو باندې سپاره شول او وتښتېدل.

۳۰ هغوی لا په هغه وخت کې کور ته په لارې وو چې داود ته خبر ورسېده: <ابشالوم ستاسو ټول زامن ووژل او يو هم ورڅخه ژوندی پاتې نه دی!> ۳۱ نو پادشاه پاڅېد، خپل کالي يې له غمه وشلول او په ځمکه باندې يې ځان وغورزاوه. د هغه ټول خدمتګاران د شلېدلو کاليو سره د هغه تر څنګ ولاړ وو. ۳۲ مګر يوناداب د داود وراره يعنې د شمعي زوی ووېل: <اعليحضرته! هغوی ستاسو ټول زامن نه دي وژلي، يوازې امنون وژل شوی دی. له هغې ورځې راهيسې چې امنون د هغه خور تامار بې عزته کړې وه دا د ابشالوم ښکاره اراده وه. ۳۳ نو په دې خبرو باندې باور مه کوئ چې ستاسو ټول زامن وژل شوي دي، يوازې امنون وژل شوی دی.>

۳۴ په دې ترځ کې ابشالوم وتښتېده. نو بيا هغه نفر چې پهره داري يې کوله ويې ليدل چې زيات خلک د حورونايم په لاره کې د غره تر څنګه راروان دي. پهره دار پادشاه ته ورغی او څه چې هغه ليدلي وو ورته ويې ويل. ۳۵ يوناداب داود پادشاه ته ووېل: <هغه دي ستاسو زامن راروان دي لکه څنګه چې مې ويلي وو هغوی راغلل.> ۳۶ څنګه چې هغه خپلې خبرې پای ته ورسولې، د داود زامن راننوتل او په لوړ اواز يې په ژړا شروع وکړه. پادشاه هم وژړل او د هغه ټولو خدمتګارانو ډېر سخت وژړل.

۳۷-۳۸ ابشالوم وتښتېده او د عميهود زوی تلمای ته چې د جشور پادشاه ؤ ورغی او درې کاله هلته پاتې شو. داود د خپل زوی امنون دپاره ډېره موده وير کاوه. ۳۹ مګر کله



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغه د امنون د مړينې څخه وروسته تسلي ومونده، د خپل زوی ابشالوم دپاره يې په
زړه کې هيله پيدا شوه.

## ابشالوم اورشليم ته راستنيږي

١٤ ١ يوآب د زرويه زوی پوه شو چې داود پادشاه ابشالوم ډېر يادوي. ٢ نو
يوآب تقوع ته يو نفر ولېږه او له هغه ځای څخه يې يوه هوښياره ښځه راوستله. هغې ته يې
وويل: <داسې فرض کړه چې ته د وير کولو په حال کې يې. د وير کالي واغونده او د ښه
بوی لرونکي تېل مه وهه. خپل ځان د هغې ښځې په شان جوړ کړه چې زيات وخت يې
وير کړی وي. ٣ بيا پادشاه ته ورشه او هغه څه چې زه يې درته وايم هغه ته ووايه.> نو
بيا يوآب هغې ته وويل چې څه ووايي.

٤ کله چې هغه ښځه پادشاه ته ورغله، هغه ته د درناوي په خاطر په ځمکه باندې
پړمخې پرېوتله او ويې ويل: <ای اعليحضرته! زما سره مرسته وکړه.>

٥ پادشاه د هغې څخه پوښتنه وکړه: <ته څه غواړې؟>

هغې ځواب ورکړ: <زه کونډه يمه. زما مېړه مړ شوی دی. ٦ اعليحضرته! زما دوه زامن
وو. يوه ورځ هغوی په پټي کې يو د بله سره جنګ وکړ او هلته هيڅوک نه ؤ چې دوی سره
بېل کړي. يوه هغه بل وواژه. ٧ اوس زما ټول خپلوان زما په ضد راپورته شوي دي او
زما څخه دا غوښتنه کوي چې خپل زوي هغوی ته وسپارم، ترڅو هغه د خپل ورور د قتل
په خاطر ووژني. که چېرې هغوی دا کار وکړي نو زما اخرنی هيله به هم له منځه يوسي او
زما مېړه ته به د ځمکې په مخ نه نوم پاتې شي او نه اولاد.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ پادشاه هغې ښځې ته وويل: <ته خپل کور ته ستنه شه او زه به ستا په خاطر حکم ورکړم.>

۹ هغې وويل: <اعليحضرته! تاسو چې هرڅه کوئ د هغې ملامتيا دې په ما او زما په کورنۍ باندې وي، تاسو او شاهي کورنۍ دې بې ګناه وي.>

۱۰ پادشاه ځواب ورکړ: <که چېرې چا درته څه وويل، هغه ماته راوله، بيا به هيڅکله تا نه ځوروي.>

۱۱ هغې وويل: <اعليحضرته! مهرباني وکړئ د خپل څښتن خدای په نوم قسم وخورئ ترڅو زما خپلوان چې زما د زوی د مرګ د بدل اخيستلو مسئول دی زما د بل زوی په وژلو سره يو لوی جرم ونه کړي.>

داود ځواب ورکړ: <زه د ژوندي څښتن په نوم قسم خورم چې ستا د زوی د سر يو ويښته به هم کم نه شي.>

۱۲ هغې ښځې وويل: <اعليحضرته! اجازه راکړئ چې يوه بله خبره هم درته وکړم.>

هغه ځواب ورکړ: <ووايه!>

۱۳ هغې ښځې وويل: <ولې مو د خدای د قوم سره داسې غلطي کړې ده؟ تاسو خپل زوی نه پرېږدئ چې د جلاوطنۍ څخه راستون شي نو تاسو خپل ځان په هغې خبرې باندې چې همدا اوس مو وکړه ملامتوئ. ۱۴ مونږ ټول مره کېږو او د اوبو په شان يو چې په ځمکه باندې توئيږي او بېرته نه شي راټولېدلی. خدای ژوند نه اخلي بلکه داسې لاره لټوي چې يو شړلی سړی د هغه څخه لېرې پاتې نه شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ نو اوس، اعليحضرته! د دې خبرې دليل چې زه راغلې يم چې تاسو سره خبرې وکړم،
دا دی چې خلک ماته ګواښ کوي. نو ما د ځان سره وويل چې زه به تاسو سره خبرې
وکړم او دا هيله مې درلودله چې تاسو به هغه څه وکړئ چې زه يې غواړم. ۱۶ ما فکر
کاوه چې تاسو به زما خبرو ته غوږ ونيسئ او ما به د هغه سړي د لاسه وژغورئ چې هڅه
کوي ما او زما زوی دواړه د هغه وطن څخه بې برخې کړي چې خدای مونږ ته راکړی دی.

۱۷ اعليحضرته! نو ما باور درلود چې ستاسو وعده به ماته ارامي راولي، ځکه چې تاسو د
ښو او بدو په پېژندلو کې د خدای د فرښتې په شان ياست. ستاسو څښتن خدای دې له
تاسو سره وي.>

۱۸ پادشاه ځواب ورکړ: <زه ستا څخه يو سوال کوم او ته بايد راته پوره رښتيا ووايې.>

هغې ځواب ورکړ: <اعليحضرته! د هر شي پوښتنه چې کوئ.> ۱۹ پادشاه د هغې څخه
پوښتنه وکړه: <آيا په دې ټولو کارونو کې له تا سره د يوآب لاس نه دی؟>

هغې ځواب ورکړ: <اعليحضرته! زه ستاسو په ژوند باندې قسم خورم چې هيڅوک نه شي
کولی له تاسو څخه حقيقت پټ کړي. په رښتيا سره دا ستاسو قوماندان يوآب ؤ، هغه ټول
څه چې ما تاسو ته وويل، هغه ماته را زده کړل. ۲۰ خو هغه دا کار د دې دپاره وکړ چې
دا اوسنی حالت بدل کړي. اعليحضرته! تاسو د خدای د فرښتې په شان حکمت لرئ، هر
هغه څه چې په هېواد کې پېښېږي تاسوورباندې پوهېږئ.>

۲۱ وروسته پادشاه يوآب ته وويل: <ډېر ښه، ما پرېکړه کړې ده څه چې ته غواړې زه به
يې وکړم. لاړ شه او هغه ځوان ابشالوم دلته راوله.>

۲۲ يوآب هغه ته د درناوي کولو په خاطر په ځمکه باندې پړمخې پرېوت او ويې ويل:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

<اعلیحضرته! خدای دې تاته برکت درکړي! اوس زه پوه شوم چې تاسو زما څخه خوشاله
یئ، ځکه چې زما غوښتنه مو ومنله.> ۲۳ بیا یوآب جشور ته لاړ او ابشالوم یې بېرته
اورشلیم ته راوست. ۲۴ خو بیاهم پادشاه حکم وکړ چې ابشالوم دې خپل کور ته لاړ
شي. پادشاه وویل: <زه نه غواړم چې د هغه مخ ووینم.> نو ابشالوم په خپل کور کې
اوسېده او د پادشاه سره به نه مخامخ کېده.

## ابشالوم د داود سره پخلا کیږي

۲۵ په ټولو اسراییلو کې د ابشالوم په شان ښکلی او د صفت وړ سړی نه پیدا کېده. په هغه
کې د سر څخه نیولې تر پښو پورې هیڅ کوم عیب نه ؤ. ۲۶ د هغه ویښتان ډېر ګڼ وو او
په کال کې به یې یو ځل کمول. هرکله چې به هغه ډېر اوږده او درانده شول نو د هغه وزن
به د شاهي اندازې د وزن له مخې له دوه کیلوګرامو څخه زیاتېده. ۲۷ ابشالوم درې زامن
او د تامار په نامه یوه لور درلوده چې ډېره ښایسته نجلۍ وه.

۲۸ ابشالوم دوه کاله په اورشلیم کې اوسېده او د پادشاه مخ یې ونه لید. ۲۹ نو ابشالوم
یوآب د دې دپاره راوغوښت چې پادشاه ته یې ورولېږي، مګر هغه ونه غوښتل چې ده ته
ورشي. نو هغه یې د دوهم ځل دپاره راوغوښت مګر هغه د راتګ څخه انکار وکړ. ۳۰ نو
ابشالوم خپلو خدمتګارانو ته وویل: <ګورئ، د یوآب پټی زما د پټي په څنګ کې دی او
هلته د هغه اوربشې دي، لاړ شئ او اور ورته واچوئ.> نو هغوی پټي ته اور واچاوه.

۳۱ یوآب د ابشالوم کور ته ورغی او ورڅخه یې پوښتنه وکړه: <ستا خدمتګارانو ولې
زما پټي ته اور اچولی دی؟>

۳۲ ابشالوم یوآب ته وویل: <ګوره، ما تاته خبر درولېږه چې دلته راشه. ما غوښتل چې
پادشاه ته ورشې او زما دپاره ورڅخه دا پوښتنه وکړې چې ولې د جشور څخه دلته راغلم؟



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښه به دا وه چې هلته پاتې شوی وای.> ابشالوم زياته کړه: <زه ستا څخه غواړم چې ماته
داسې لاره جوړه کړې چې پادشاه وګورم. که چېرې زه ګناهکار يم نو پرېږده چې ومې
وژني.>

۳۳ نو يوآب پادشاه ته ورغی او دا يې ورته وويل. بيا پادشاه ابشالوم راوغوښت او هغه
راغی او د پادشاه په مخ کې د درناوي په خاطر ځمکې ته ټيټ شو او پادشاه ابشالوم ښکل
کړ.

## ابشالوم د ياغيتوب نقشه جوړوي

۱۵ ۱ يو څه موده وروسته ابشالوم د خپل ځان دپاره جنګي ګاډی، اسونه او پنځوس
سړي چې هغه يې بدرګه کاوه تيار کړل. ۲ هغه به سهار وختي پاڅېده او د هغې لارې په
څنګ کې به ودرېده چې د ښار دروازې ته تللې وه. هرکله چې به څوک د خپل شکايت د
فيصله کولو دپاره پادشاه ته ورته نو ابشالوم به په هغه باندې غږ کاوه: <ته د کوم ځای
يې؟> هغه نفر به ځواب ورکاوه چې د کومې قبيلې څخه دی. ۳ نو ابشالوم به ورته
ويل: <ګوره، ستا دعوه قانوني او صحيح ده، مګر دلته د پادشاه کوم نماينده نشته چې ستا
عرض واوري.> ۴ ابشالوم به زياته کړه: <کاشکې خلک ما د دې هېواد قاضي وټاکي،
نو هرچا چې کوم شکايت يا دعوه درلودله ماته به راشي او زه به د هغه سره انصاف
وکړم.> ۵ همدارنګه هرکله چې کوم څوک به هغه ته ورنژدې شو چې د درناوي دپاره
ورته خپل سر ټيټ کړي، ابشالوم به خپل لاس ور اوږد کړ، هغه به يې ونيوه او ښکل به يې
کړ. ۶ ابشالوم به د هغو ټولو اسراييليانو سره چې د پادشاه څخه به د انصاف غوښتلو
دپاره راتلل دغه شان رويه کوله. نو په دې ډول يې د اسراييليانو زړونه په لاس راوړل.

۷ وروسته له څلورو کالو ابشالوم پادشاه ته وويل: <اجازه راکړئ چې حبرون ته لاړ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شم او هغه نذر چې د څښتن دپاره مې منلی ؤ ورکړم. (۸) کله چې زه د ارام په جشور
کې اوسېدم دا نذر مې منلی ؤ، چې که چېرې څښتن ما بېرته اورشليم ته راولي نو په حبرون
کې به د څښتن عبادت وکړم.>

(۹) پادشاه هغه ته وويل: <په خير لاړ شه>، نو هغه حبرون ته لاړ. (۱۰) مګر ابشالوم د
اسراييلو ټولو قبيلو ته په پټه توګه پيغام وړونکي واستول چې هغوی ته داسې ووايي: <کله
چې تاسو د سرني اواز واورئ نو چيغې ووهئ چې ابشالوم په حبرون کې پادشاه شوی
دی!> (۱۱) دوه سوه نفرو د اورشليم څخه ابشالوم بدرګه کاوه چې د مېلمنو په توګه رابلل
شوي وو. هغوی د زړه له اخلاصه لاړل او د موضوع څخه خبر نه وو. (۱۲) د قربانۍ کولو
په وخت کې ابشالوم اخيتوفل د داود مشاور هم راوغوښت چې د خپل وطن جيلوه څخه
راشي. نو د پادشاه په مقابل کې دسيسه قوي شوه او د ابشالوم پيروان زياتېدل.

## داود د اورشليم څخه تښتي

(۱۳) يو استازي داود ته خبر راوړ چې د اسراييلو خلکو خپله وفاداري بدله کړې ده او د
ابشالوم پلوي کوي. (۱۴) نو داود خپلو ټولو درباريانو ته چې په اورشليم کې ورسره وو
ووېل: <راشئ! مونږ بايد وتښتو، که نه، نو مونږ به يو هم د ابشالوم څخه خلاص نه شو.
بايد بيړه وکړو او لاړ شو، هسې نه چې هغه سمدستي راورسيږي او مونږ او همدارنګه په
ښار کې هر يو تن ووژني.>

(۱۵) درباريانو ځواب ورکړ: <ښه ده اعليحضرته! هرڅه چې ستاسو خوښه وي مونږ تيار
يو.> (۱۶) نو پادشاه روان شو او د خپلې ټولې کورنۍ او درباريانو له خوا بدرګه کېده. مګر
هغه لس وينځې د ماڼۍ د ساتلو دپاره پرېښودلې.

(۱۷) نو پادشاه د هغو ټولو خلکو سره چې د ده پسې وو روان شو او هغوی د ښار په يوه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غاړه کې د آخرني کور په ښنګ کې وځنډېدل. ۱۸ ټول درباريان او د هغه ساتونکي ګارډ
يعني کريتيان او فليتيان د داود په مخ کې تېر شول. همدارنګه شپږسوه عسکر چې له جت
ښخه د ده پسې وو هغوی هم تېر شول. ۱۹ پادشاه د هغوی مشر اتای ته وويل: <ته ولې
زمونږ سره ځې؟ بېرته لاړ شه او د نوي پادشاه سره پاتې شه. ځکه ته بېګانه او جلاوطن
يې. ۲۰ ډېر کم وخت کيږي چې ته دلته اوسېږې، نو زه ولې تا د خپل ځان سره دې خوا
او هغې خواته سرګردان کړم؟ زه خپله هم نه پوهېږم چې چېرته روان يم. خپل ټول خلک
دې د ځان سره واخله، بېرته لاړ شه او ښتښن دې ستا سره مهربان او وفادار وي.>

۲۱ مګر اتای ځواب ورکړ: <اعليحضرته! زه تاسو ته د ژوندي ښتښن په نامه او ستاسو
په نامه قسم خورم چې هر چېرې چې تاسو ځئ زه به همېشه درسره ځم. که دا زما د ژوند
په بيه هم تمام شي فرق نه کوي.>

۲۲ داود ځواب ورکړ: <ډېر ښه! ځه مخکې شه!> نو اتای د خپلو نفرو او د هغو کورنيو
سره چې له دوی سره وې د داود په مخکې تېر شول. ۲۳ ښنګه چې د داود ټول نفر لاړل
نو خلکو په لوړ اواز سره ژړل. پادشاه د خپلو نفرو سره د قدرون د خوړ ښخه تېر شو او
هغوی ټول د دښتې خواته روان شول.

۲۴ ابياتار او صادوق کاهنان هلته وو او د هغوی سره ټول لاويان هم وو چې د خدای د
لوظ صندوق يې انتقالاوه. صندوق يې کېښود، ترڅو ټول خلک د ښاره بيرون شول. ۲۵
وروسته بيا پادشاه صادوق ته وويل: <د لوظ صندوق بېرته ښار ته يوسه، که چېرې ښتښن
زما ښخه خوشاله وي نو يوه ورځ به هغه ماته اجازه راکړي چې بېرته راشم او صندوق او
هغه ځای چې صندوق په کې دی ووينم. ۲۶ مګر که چېرې هغه زما ښخه خوشاله نه وي
نو زه حاضر يم هرڅه چې د هغه خوښه وي زما سره دې وکړي.> ۲۷ هغه صادوق
کاهن ته دا هم وويل: <ګورئ، ته او ابياتار کولای شئ په خير سره بېرته ښار ته ستانه شئ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خپل زوی اخیمعص او د ابیاتار زوی یوناتان هم درسره واخلئ. (۲۸) زه به د هغه سیند
په ګودر چې په دښته کې دی انتظار کوم ترڅو ستا پیغام راشي او ما خبر کړي.> (۲۹) نو
صادوق او ابیاتار د لوظ صندوق بېرته اورشلیم ته یوووړ او هلته پاتې شول.

(۳۰) داود د زیتون غره ته پورته کېده او ژړل یې. هغه خپلې پښې لوڅې کړې وې او خپل
سر یې د غم د علامې په توګه پټ کړی ؤ. هغو خلکو چې د ده سره وو هم خپل سرونه پټ
کړي وو او په ژړا سره روان وو. (۳۱) کله چې داود خبر شو چې اخیتوفل د ابشالوم سره
په یاغیتوب کې یوځای شوی دی، هغه زاري وکړه: <ای خښتنه، د اخیتوفل مشوره احمقانه
کړه!>

(۳۲) کله چې داود د غره سرته ورسېده چېرته چې د عبادت یو ځای ؤ، ارکي حوشای چې
چینه یې شلېدلې وه او په سر باندې یې خاورې پرتې وې د هغه لیدلو ته راغی. (۳۳) داود
هغه ته وویل: <که چېرې ته زمونږ سره لاړ شې نو په ما باندې به بار شې. (۳۴) مګر ته
زما سره په دې ډول کومک کولی شې، اول دا چې ښار ته ستون شه او ابشالوم ته ووایه چې
ته به اوس هماغسې په وفادارۍ سره د ده خدمت کوې لکه څنګه چې دې د هغه د پلار
خدمت کاوه. بیا به وکولای شې چې د اخیتوفل هره مشوره بې اثره کړې. (۳۵) صادوق او
ابیاتار کاهنان به هلته وي، هرڅه چې ته د پادشاه په ماڼۍ کې اورې هغوی ته یې وایه. (۳۶)
د هغوی زامن اخیمعص او یوناتان هلته د هغوی سره دي. هرڅه چې تاسو ټول واورئ د
هغوی په لاس یې راولېږئ.>

(۳۷) څنګه چې ابشالوم ښار ته داخلېده نو د داود ملګری حوشای هم اورشلیم ته
ورورسېده.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## داود او صيبا

۱۶ ۱ کله چې داود د غره د سر څخه لږ څه تېر شو، د مفيبوشت د خدمتګار صيبا
سره مخامخ شو. هغه په دوو خرو باندې دوه سوه ډوډۍ، د مميزو سل کلچې، د اوړي د
مېوو سل موټي او د شرابو ډک ژی بار کړي وو.

۲ پادشاه د صيبا څخه پوښتنه وکړه: <دا دې ولې راوړي دي؟>

صيبا ځواب ورکړ: <خره د پادشاه د کورنۍ دپاره دي، چې ورباندې سپاره شي. ډوډۍ او
مېوې د نفرو د خوړلو دپاره دي. شراب د هغو نفرو دپاره دي چې په دښته کې ستومانه
شوي دي.>

۳ پادشاه بيا پوښتنه کړه: <ستا د بادار شائول لمسی مفيبوشت چېرې دی؟>

صيبا هغه ته وويل: <هغه په اورشليم کې پاتې دی، ځکه چې هغه فکر کوي چې اسراييليان
به نن ورځ زما د نيکه شائول پادشاهي بېرته ماته راکوي.>

۴ پادشاه صيبا ته وويل: <هرڅه چې د مفيبوشت وو اوس هغه ستا دي.>

صيبا ځواب ورکړ: <اعليحضرته! زه د ستاسو په وړاندې د درناوي په خاطر ټيټېږم. تاسو
دې تل زما څخه خوشاله اوسئ.>

## شمعي داود ته ښکنځل کوي

۵ څنګه چې داود پادشاه بحوريم ته ورسېد، د شائول د خپلخانې څخه د جيرا زوی
شمعي له هغه ځای څخه د هغه ليدلو ته راووت. څنګه چې هغه راروان ؤ ښکنځلې يې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولې. ۶ که څه هم ټول لښکر او خاص ساتونکي د داود څخه ګردچاپېر ولاړ وو، هغه
داود او د هغه ټول درباریان په تیږو باندې ویشتل. ۷ شمعي هغه ته ښکنځلې وکړې،
ویې ویل: <ورک شه! ورک شه! ای قاتله! ای رذیله! ۸ تا د شائول څخه پادشاهي
واخیستله او اوس څښتن د شائول د کورنۍ د ډېرو خلکو د قتلولو په خاطر ستا څخه بدل
اخلي. څښتن ستا زوی ابشالوم ته پادشاهي ورکړه او ته له منځه تللی یې، ځکه چې ته
قاتل یې!>

۹ نو د زرویه زوی ابیشای پادشاه ته وویل: <اعلیحضرته! تاسو ولې دې مړ سپي ته
اجازه ورکوئ چې تاسو ته ښکنځل وکړي؟ پرېږدئ چې ورشم او سر یې پرې کړم!>

۱۰ پادشاه ابیشای او د هغه ورور یوآب ته وویل: <زه ستاسو په شان نه یم. که هغه ماته
د څښتن په وینا ښکنځلې کوي نو څوک دا حق لري چې پوښتنه وکړي، ولې هغه داسې
کوي؟> ۱۱ بیا داود ابیشای او خپلو ټولو درباریانو ته وویل: <زما خپل زوی هڅه کوي
چې ما ووژني، نو تاسو ولې دې بنیامیني ته حیران یئ؟ نو هغه پرېږدئ چې ښکنځلې
وکړي، ځکه چې څښتن ورته ویلي دي. ۱۲ کېدای شي چې څښتن زما مصیبت وویني او
د هغو ښکنځلو په بدل کې چې نن ماته وشوې راسره نېکي وکړي.> ۱۳ نو داود او د هغه
سړي خپل تګ ته دوام ورکړ. په هغه وخت کې شمعي هم د هغوی سره موازي او برابر د
نژدې غره په څنګ کې روان ؤ. هغه ښکنځلې کولې، داود یې په تیږو باندې ویشت او
خاورې یېورباندې شیندلې. ۱۴ پادشاه د خپلو ټولو نفرو سره د اردن د سیند ګودر ته
ورسېد او هلته یې استراحت وکړ.

## ابشالوم په اورشلیم کې

۱۵ ابشالوم او هغه اسراییلیان چې د هغه سره وو، اورشلیم ته ورننوتل او اخیتوفل هم د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی سره ؤ. ﴿١٦﴾ کله چې د داود اعتباري ملګري حوشای ابشالوم ولید، هغه چیغې
ووهلې: <ژوندی دې وي پادشاه! ژوندی دې وي پادشاه!>

﴿١٧﴾ ابشالوم د هغه څخه پوښتنه وکړه: <ستا په وفادارۍ باندې څه وشو چې د خپل
ملګري داود سره دې درلودله؟ ولې د هغه سره لاړ نه شوې؟>

﴿١٨﴾ حوشای ځواب ورکړ: <نه، داسې نه شي کېدای، زه به د هغه چا ملاتړ کوم او زه به د
هغه سره اوسم چې د ښښتن او د دې قوم او ټولو اسراییلیانو له خوا غوره شوی دی. ﴿١٩﴾
برسېره پردې، زه چې د خپل بادار د زوی خدمت ونه کړم نو د چا خدمت وکړم؟ لکه څنګه
چې مې ستاسو د پلار خدمت کاوه نو اوس به ستاسو خدمت کوم.>

﴿٢٠﴾ نو ابشالوم اخیتوفل ته وویل: <مونږ ته مشوره راکړه چې څه باید وکړو.>

﴿٢١﴾ اخیتوفل ځواب ورکړ: <لاړ شه او د خپل پلار د وینځو سره چې د ماڼۍ د ساتلو
دپاره یې پرېښې دي خمله. نو ټول اسراییل به پوه شي چې ستا پلار تاته د خپل دښمن په
شان ګوري او ستا ملاتړي به ډېر زیات زړور شي.> ﴿٢٢﴾ نو هغوی ابشالوم ته د ماڼۍ په
بام باندې خېمه ودروله او ابشالوم د ټولو اسراییلیانو په مخ کې هغې ته ورننوت او د خپل
پلار د وینځو سره څملاست.

﴿٢٣﴾ په هغو ورځو کې هره مشوره چې اخیتوفل ابشالوم ته ورکوله، هغه به هم د خپل پلار
داود په شان هغه قبلوله، ځکه د هغو دواړو په نظر کې دا مشورې دومره عاقلانه وې چې
ګواکې د خدای کلام دی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## حوشای ابشالوم بې لارې کوي

١٧ ١ اخیتوفل ابشالوم ته وویل: <اجازه راکړئ چې دولس زره نفره انتخاب کړم او
نن شپه داود تعقیب کړم. ٢ دا وخت هغه ستړی او بې زړه شوی دی، زه به ورباندې
حمله وکړم او وارخطا به یې کړم او د هغه ټول نفر به وتښتي. زه به یوازې پادشاه ووژنم
٣ او د هغه ټول خلک به بېرته ستا خواته راواړوم. د یو سړي یعنې داود وژنه به د نورو
ټولو خلکو د بېرته راتګ سبب وګرځي. هغوی به په سلامتۍ سره راستانه شي.> ٤ دا
مشوره ابشالوم او د اسراییلو ټولو مشرانو ته ښه ښکاره شوه.

٥ بیا ابشالوم وویل: <حوشای راوغواړئ چې د هغه څخه هم واورو چې هغه څه
وایي.> ٦ کله چې حوشای راورسېد، ابشالوم هغه د اخیتوفل د پلان څخه خبر کړ. بیا
یې پوښتنه وکړه: <ته څه وایې؟ آیا د اخیتوفل مشوره قبوله کړو؟ که نه، نو ته موږ ته ووایه
چې څه وکړو.>

٧ حوشای ځواب ورکړ: <دا ځل چې اخیتوفل کومه مشوره تاسو ته درکړې ده هغه ښه
نه ده. ٨ تاسو پوهېږئ چې ستاسو پلار داود او د هغه سړي ډېر سخت جنګیالیان دي او
هغوی د هغې ایږې په شان چې بچي یې تښتول شوي وي په قهر دي. ستاسو پلار یو تجربه
لرونکی عسکر دی او هغه د شپې له خوا د خپلو نفرو سره نه پاتې کیږي. ٩ ګورئ!
همدا اوس هغه په کومه کنده یا بل ځای کې پټ شوی دی. کله چې زمونږ د لښکرو څخه
ځینې په لومړي برید کې ووژل شي، هرڅوک چې دا واوري وبه وایي چې د ابشالوم
لښکرې له منځه تللې دي. ١٠ نو حتیٰ د ټولو نه زړور عسکر چې زړونه یې د زمرې د
زړه په شان دي هغوی به هم وارخطا شي. ځکه چې ټول اسراییلیان پوهېږي چې ستاسو
پلار ډېر لوی جنګیالی دی او د هغه سړي هم زړور جنګیالي دي. ١١ نو زما مشوره دا ده
چې د هېواد له یو سر څخه تر بله سره پورې یعنې د دان څخه تر بئرشبع پورې ټول



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اسراییلیان چې د دریاب د غاړې د شګو په شان ډېر دي سره راغونډ کړئ او په جګړه کې تاسو په خپله د هغوی سره لاړ شئ. ﴿۱۲﴾ داود چې په هر ځای کې وي مونږ به هغه راپیدا کوو او داسې به وربانديې وروغورزېږو لکه چې په ځمکه بانديې پرخه پرېوځي. نه به هغه ژوندی پاتې شي او نه به د هغه د نفرو څخه څوک ژوندی پاتې شي. ﴿۱۳﴾ که چېرې هغه یو ښار ته ننوزي، نو ټول اسراییلیان به رسۍ ګانې راوړي او ښار به لاندې درې ته راوغورزوي. یوه تیږه به هم د ښار په غونډۍ بانديې پاتې نه شي.>

﴿۱۴﴾ ابشالوم او ټولو اسراییلیانو ووېل: <د حوشای مشوره د اخیتوفل د مشورې څخه ښه ده.> ځکه چې ښښتن دا پرېکړه کړې وه چې د اخیتوفل ښه مشوره باطله کړي، د دې په خاطر چې ابشالوم تباه او برباد کړي.

## داود ته خبرداری او د هغه تېښته

﴿۱۵﴾ وروسته حوشای صادوق او ابیاتار کاهنانو ته ووېل چې اخیتوفل څه وړاندیز کړی ؤ او د ده مشوره کومه وه. ﴿۱۶﴾ حوشای زیاته کړه: <اوس ژر شئ! داود ته پیغام ورولېږئ چې د اردن د سیند په هغه ګودر چې په دښته کې دی شپه تېره نه کړي، بلکه سمدستي د سیند څخه تېر شي ترڅو هغه او هغه خلک چې ورسره دي له منځه لاړ نه شي.>

﴿۱۷﴾ په دې ترڅ کې، یوناتان د ابیاتار زوی او اخیمعص د صادوق زوی د روجل په چینې چې د اورشلیم په غاړه وه انتظار کاوه، ځکه چې هغوی جرأت نه کاوه چې ښار ته د ننوتلو په وخت کې ولیدل شي. یوه وینځه به تله او هرڅه چې به پېښېدل هغوی ته به یې خبر ورکاوه او بیا به دوی تلل او داود پادشاه به یې خبراوه. ﴿۱۸﴾ مګر یوه ورځ، یو هلک دوی ولیدل او ابشالوم یې خبر کړ. نو هغوی په چټکۍ سره په بحوریم کې د یو سړي کور ته ورغلل چې هلته پټ شي. د هغه په انګړ کې یو کوهی ؤ او هغوی په کې ورکوز شول. ﴿۱۹﴾



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه سړي ښځې يوه پرده راواخيسته، د کوهي په خولې باندې يې وغوړوله او غلې دانې يې ورباندې وشيندلې ترڅو هيڅوک ورباندې پوه نه شي. ۲۰ کله چې د ابشالوم نفر کور ته راغلل، د هغې ښځې څخه يې پوښتنه وکړه: <اخيمعص او يوناتان چېرته دي؟>

هغې ځواب ورکړ: <هغوی د سيند څخه تېر شول.>

هغو نفرو هغوی ولټول مګر پيدا يې نکړل، نو هغوی بېرته اورشليم ته ستانه شول. ۲۱ د هغوی د تګ څخه وروسته اخيمعص او يوناتان د کوهي څخه راووتل، لاړل او داود پادشاه يې خبر کړ. اخيتوفل چې کوم پلان د هغه او د هغه د نفرو په ضد جوړ کړی ؤ هغه يې ورڅخه خبر کړ او ويې ويل: <ژر شئ او د سيند څخه پورې وزئ.> ۲۲ نو داود د خپلو نفرو سره د اردن د سيند څخه په تېرېدو پيل وکړ او د لمرخاته پورې هغوی ټول د سيند بلې خواته پورې وتل.

۲۳ کله چې اخيتوفل وليدل چې د ده په مشورې باندې عمل ونه شو، په خپل خره باندې يې کته واچوله او بېرته خپل ښار ته ستون شو. وروسته له دې چې خپل کارونه يې سمبال کړل خپل ځان يې په دار باندې ځوړند کړ او مړ شو. هغه په خپله پلارنۍ هديره کې ښخ شو.

۲۴ داود د محنايم ښار ته ورسېد او ابشالوم د اسراييلو د لښکر سره د اردن د سيند څخه تېر شو. ۲۵ (ابشالوم عماسا د يوآب په ځای د لښکرو مشر ټاکلی ؤ. عماسا د اسراييلي يتر زوی ؤ، د هغه مور ابيجايل، د ناحاش لور وه او د يوآب د مور زرويه خور وه.) ۲۶ ابشالوم او هغو اسراييليانو چې د هغه سره وو د جلعاد په خاوره کې خېمې ودرولې.

۲۷ کله چې داود محنايم ته ورسېد، هغه د ناحاش د زوی شوبي سره چې په عمون کې د ربه د ښار څخه ؤ، د عميئيل د زوی ماخير سره چې د لودبار څخه ؤ او د برزلای جلعادي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره چې د روجلیم څخه ؤ مخامخ شو. ۲۸ هغوی بسترې، کاسې او خاورین لوښي
راوړل. همدارنګه هغوی غنم، اوربشې، اوړه، وریتې شوې غلې دانې، دال، لوبیا، ۲۹ شات،
مستې، د غواګانو د شیدو پنیر او پسونه هم د داود او د هغه د خلکو دپاره راوړل چې ویې
خوري. ځکه چې هغوی ویل: <خلک به په دښته کې وږي، تږي او ستړي شوي وي.>

## د ابشالوم ماتې او وژنه

۱۸ ۱ داود خپل ټول نفر سره راغونډ کړل، په زر کسیزه او سل کسیزه ټولیو باندې
یې وویشل او د هغوی دپاره یې قوماندانان وټاکل. ۲ بیا یې هغوی په درې ګروپونو کې
ولیږل، د اول ګروپ قوماندان یې یوآب، د دوهم ګروپ قوماندان یې د یوآب ورور ابیشای
او د دریم ګروپ قوماندان یې جتي اتای وټاکه. پادشاه خپلو نفرو ته وویل: <زه خپله هم له
تاسو سره ځم.>

۳ خو هغوی ځواب ورکړ: <تاسو باید زمونږ سره لاړ نه شئ، ځکه که چیرې مونږ
مجبور شو چې وتښتو یا که زمونږ له خلکو څخه نیمایي هم ووژل شي نو د دښمن دپاره به
دا هیڅ فرق ونه کړي. مګر ستاسو ارزښت زمونږ د لس زرو نفرو څخه زیات دی. اوس به
ستاسو دپاره دا ډېره ښه وي چې په ښار کې پاتې شئ او مونږ ته مرسته راولیږئ.>

۴ پادشاه ځواب ورکړ: <هرڅه چې تاسو ته ښه ښکاري هغه به وکړم.> بیا پادشاه د
دروازې تر څنګ ودرېد او د هغه نفر په زر کسیزه او سل کسیزه ټولیو کې د ښاره ووتل.
۵ هغه یوآب، ابیشای او اتای ته حکم وکړ: <زما په خاطر ځوان ابشالوم ته زیان مه
رسوئ.> ټولو لښکرو واورېدل چې داود خپل هر یو قوماندان ته دا حکم ورکړ.

۶ د داود لښکر صحرا ته ووتل او د اسراییلیانو سره یې د افرایم په ځنګل کې جګړه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړه. ⑦ اسراییلیانو د داود د نفرو له خوا ماتې وخوړه. دا ډېره لویه وژنه وه، په هغې
ورځ شل زره نفر ووژل شول. ⑧ جګړه شاوخوا سیمې ته خپره شوه. د هغو نفرو شمېر
چې د ځنګل له کبله مړه شول د هغو نفرو څخه زيات ؤ چې په جګړه کې وژل شوي وو.

⑨ ابشالوم ناڅاپه د داود د يو شمېر نفرو سره مخامخ شو، ابشالوم په قچر باندې سپور ؤ.
قچر د خېرې د يوې لويې ونې لاندې روان ؤ چې د ابشالوم سر د ونې په شاخونو کې
ونښت. قچر خپل تګ ته دوام ورکړ او ابشالوم په هوا کې ځوړند پاتې شو. ⑩ کله چې
يو سړي هغه وليد، يوآب يې خبر کړ: <ما همدا اوس ابشالوم وليده چې د خېرې په ونه کې
ځوړند ؤ.>

⑪ يوآب ځواب ورکړ: <ابشالوم دې وليد؟ ولې دې په هغه ځای ونه واژه؟ ما به په خپل
لاس تاته لس مثقاله سپين زر او کمربند درکړی وای.>

⑫ مګر هغه نفر ځواب ورکړ: <که ماته دې زر مثقاله سپين زر هم راکړي وای ما به د
پادشاه د زوی په ضد خپل لاس پورته کړی نه وای. مونږ ټولو واورېدل چې پادشاه تاته،
ابيشای ته او اتای ته حکم وکړ چې زما په خاطر ځوان ابشالوم ته زيان ونه رسوئ. ⑬
له بلې خوا، که چېرې ما خيانت کړی وای او هغه مې وژلی وای نو پادشاه به اورېدلې وای.
هغه له هرڅه څخه خبريږي، نو تا به زما څخه دفاع نه وای کړې.>

⑭ يوآب وويل: <زه نه غواړم ستا سره نور وخت ضايع کړم.> هغه درې نېزې
راواخيستلې او د ابشالوم په سينه کې يې چې تر هغه وخته لا ژوندی ؤ او د خېرې په ونه
کې ځوړند ؤ ورومنډلې. ⑮ وروسته بيا د يوآب لس نفره چې د هغه وسلې به يې وړلې
ابشالوم ته ورنژدې شول او د هغه وژنه يې پای ته ورسوله.

⑯ وروسته يوآب سرنی وواهه چې جګړه بس کړي. نو د هغه لښکرې د اسراييليانو د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تعقیبولو څخه بېرته راوګرځېدلې. ۱۷ هغوی د ابشالوم مړی راواخیست، په ځنګل کې یې
په یوه ژوره کنده کې وغورزاوه او هغه یې د تیږو د یوې لویې ډېرۍ لاندې پټ کړ. بیا ټول
اسراییلیان خپلو کورونو ته وتښتېدل.

۱۸ ابشالوم لا ژوندی ؤ چې یو څلی یې د پادشاه په دره کې جوړ کړ او هغه یې د خپل
ځان په نامه یاد کړ. دا کار یې ځکه وکړ چې هغه زوی نه درلود چې د ده نوم ژوندی
وساتي. تر نن ورځې پورې هغه د ابشالوم د څلي په نوم یادیږي.

## داود د ابشالوم د مړینې څخه خبریږي

۱۹ بیا د صادوق زوی اخیمعص یوآب ته وویل: <پرېږده چې پادشاه ته ورمنډه کړم او
زېری ورباندې وکړم چې څښتن هغه د خپلو دښمنانو څخه ژغورلی دی.>

۲۰ یوآب وویل: <نه، نن ورځ به زېری نه وړې. کومه بله ورځ به دا کار وکړې، مګر نن
ورځ نه. ځکه چې د پادشاه زوی مړ شوی دی.> ۲۱ وروسته بیا یوآب د پادشاه
ایتوپیایي خدمتګار ته وویل: <لاړ شه او څه چې دې لیدلي دي پادشاه ته یې ووایه.>
ایتوپیایي یوآب ته د درناوي په خاطر سر ټیټ کړ او منډه یې کړه.

۲۲ اخیمعص یو ځل بیا یوآب ته وویل: <هرڅه چې کیږي پروا نه کوي. اجازه راکړئ
چې زه هم پادشاه ته خبر یوسم. ایتوپیایی خو لا پخوا تللی دی.>

مګر یوآب ځواب ورکړ: <ای زویه، ته ولې غواړې چې لاړ شې؟ ته به د دې خبر څخه
کوم انعام تر لاسه نه کړې.>

۲۳ اخیمعص بیا وویل: <هرڅه چې کیږي ودې شي. زه به لاړ شم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوآب وویل: <ښه، بیا لاړ شه!> نو اخیمعص د اردن د درې له لارې منډه کړه او خپل
ځان یې د ایتوپیایي نه مخکې هلته ورساوه.

۲۴ داود ښار ته د ننوتلو او بهر ته د وتلو د دروازو ترمنځ ناست ؤ. پهره دار د دېوال
سرته وخوت او د دروازې په بام باندې ودرېد. هغه خپلې سترګې پورته کړې او ویې لیدل
چې یو سړی یوازې رامنډې وهي. ۲۵ پهره دار غږ وکړ او پادشاه ته یې خبر ورکړ.
پادشاه ورته وویل: <که چېرې یوازې وي نو هغه به کوم خبر راوړی وي.> هغه سړی
رانژدې کېده.

۲۶ وروسته بیا پهره دار یو بل سړی ولید چې یوازې رامنډې وهي او هغه لاندیني پهره
دار ته ورغږ کړ: <ګوره! یو بل سړی هم یوازې رامنډې وهي!>

پادشاه ځواب ورکړ: <دا سړی هم کوم خبر راوړي.>

۲۷ پهره دار وویل: <ماته ښکاري چې د اولني سړي منډه د اخیمعص په شان ده.>

پادشاه وویل: <هغه ښه سړی دی. هغه د ښه زېرې سره راځي.>

۲۸ اخیمعص پادشاه ته غږ وکړ: <هرڅه صحیح دي!> هغه د پادشاه په مخ کې په ځمکه
باندې پرمخې پرېوت او ویې ویل: <ثناه دې وي ستاسو څښتن خدای ته! هغه تاسو ته په
هغو خلکو باندې برې درکړی دی چې ستاسو اعلیحضرت په وړاندې یې سرغړونه کړې
وه!>

۲۹ پادشاه پوښتنه وکړه: <آیا ځوان ابشالوم روغ دی؟>

اخیمعص ځواب ورکړ: <کله چې یوآب زه او د پادشاه خدمتګار رالېږلو ما د خلکو یوه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لویه هنګامه ولیدله، مګر زه پوه نشوم چې هغه څه وو.>

۳۰ پادشاه وویل: <یوې خواته ودرېږه.> نو هغه همداسې وکړل.

۳۱ وروسته بیا ایتوپیایی راورسېد او پادشاه ته یې وویل: <ستاسو اعلیحضرت دپاره یو زېری لرم! خښتن نن ورځ تاسو ته په ټولو هغو خلکو باندې بری درکړی دی چې ستاسو په وړاندې یې سرغړونه کړې ده!>

۳۲ پادشاه پوښتنه وکړه: <آیا ځوان ابشالوم روغ دی؟>

ایتوپیایي ځواب ورکړ: <کاشکې هغه څه چې په هغه باندې وشول ستاسو اعلیحضرت په ټولو دښمنانو او په ټولو هغو نفرو باندې وشي چې ستاسو په وړاندې سرغړونه کوي.>

۳۳ پادشاه ډېر خفه شو. هغې کوټې ته وخوت چې د دروازې په سر باندې وه او په ژړا شو. د تګ په حال کې یې چیغې وهلې: <ای زما زویه ابشالومه! زما زویه، زما زویه ابشالومه! کاشکې زه ستا په ځای مړ وای، ای ابشالومه، زما زویه، زما زویه!>

## یوآب د داود غندنه کوي

**۱۹** ۱ یوآب ته خبر ورسېد چې داود پادشاه ژاړي او د ابشالوم دپاره ویر کوي. ۲ نو د ټول لښکر دپاره د هغې ورځې بری په غم باندې بدل شو. ځکه چې هغوی واورېدل چې داود د خپل زوی دپاره ویر کوي. ۳ هغوی د هغو عسکرو په شان چې د جګړې څخه تښتېدلي وي او شرمېږي په خاموشۍ سره بېرته ښار ته ورننوتل. ۴ پادشاه خپل مخ پټ کړ او په لوړ اواز سره یې چیغې ووهلې: <ای زما زویه! زما زویه ابشالومه! ابشالومه زما زویه!>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ یوآب د پادشاه کور ته ورغی او هغه ته یې وویل: <تا نن د خپلو ټولو نفرو چې ستا
ژوند، ستا د زامنو ژوند او ستا د لورګانو او ستا د ښځو او وینځو ژوند یې وژغوره،
سپکاوی وکړ. ۶ ته د هغه چا سره مینه کوې چې ستا څخه کرکه کوي او د هغه چا
څخه کرکه کوې چې ستا سره مینه کوي. تا نن دا وښودله چې قوماندانان او د هغوی نفر
ستا دپاره هيڅ معنیٰ نه لري. زه پوه شوم چې که ابشالوم نن ژوندی وای او مونږ ټول مړه
وای نو ته به خوشاله وای. ۷ اوس ووځه او هغه څه چې هغوی کړي دي د هغو په
خاطر ورڅخه مننه وکړه! او که داسې ونه کړې، نو زه د ښتن په نوم قسم خورم چې سبا
سهار به حتیٰ یو سړی هم پاتې نه شي چې ستا پلوي وکړي. دا به ستا په ټول ژوند کې د
هغو ټولو بدبختیو څخه چې په تا باندې راغلي دي ډېره بدتره وي.> ۸ نو پادشاه
پاڅېد، لاړ او د ښار د دروازې تر څنګ کښېناست. د هغه نفرو واورېدل چې پادشاه هلته
دی، نو هغوی ټول د هغه حضور ته راټول شول.

## داود اورشليم ته ستنيږي

په همدې وخت کې ټول اسراييليان خپلو کورونو ته تښتېدلي وو. ۹ د اسراييلو په ټولو
قبيلو کې خلکو يو د بل سره بحث کاوه او ويل يې: <داود پادشاه مونږ د خپلو دښمنانو
څخه خلاص کړي يو. هغه مونږ د فلسطينيانو څخه ژغورلي يو، مګر اوس هغه د ابشالوم
څخه تښتېدلی دی او وطن يې پرېښی دی. ۱۰ مونږ ابشالوم د خپل پادشاه په توګه ټاکلی
ؤ، مګر هغه په جګړه کې وژل شوی دی. نو بيا ولې څوک د دې کوښښ نه کوي چې داود
پادشاه بېرته راولي؟>

۱۱ هر هغه څه چې د اسراييلو خلکو ويلي وو، هغه د داود پادشاه غوږ ته رسېدلي وو. نو
داود پادشاه صادوق او ابياتار کاهنانو ته پيغام ورولېږه چې د يهودا سپين ږيرو ته ووايي:
<ولې د پادشاه په بېرته راوستلو کې د هغه خپلې ماڼۍ ته د ټولو څخه وروسته يئ؟ ۱۲



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو زما ورونه يئ، زما خپل هډوکي او خپله وينه يئ، نو ولې بايد زما په بېرته راوستلو
کې د ټولو څخه وروسته اوسئ؟> ۱۳ داود هغوی ته دا هم وويل چې عماسا ته ووايي:
<ته زما خپل يې، له همدا اوس څخه تا د يوآب په ځای د لښکرو مشر ټاکم. که زه دا کار
ونه کړم نو خدای دې ما ووژني!> ۱۴ د داود په خبرو د يهودا خلک ډېر ژر بېرته د هغه
ملاتړي شول او هغوی پادشاه ته پيغام ورولېږه چې د خپلو ټولو نفرو سره بېرته راستون
شي.

۱۵ نو پادشاه بېرته په ستنېدو پيل وکړ. خنګه چې هغه د اردن سيند ته ورسېده، نو د
يهودا خلک جلجال ته راغلل چې د پادشاه مخې ته ورشي او هغه د سيند څخه راپورې
باسي. ۱۶ په همدې وخت کې شمعي د بنياميني جيرا زوی چې د بحوريم څخه ؤ په بېړه
سيند ته ورغی چې د داود پادشاه سره ليدنه کتنه وکړي ۱۷ او د هغه سره زر تنه
بنيامينيان وو. صيبا د شائول د کورنۍ خدمتګار هم د خپلو پنځلس زامنو او شلو نوکرانو
سره په بېړه د پادشاه څخه مخکې سيند ته ورسېدل. ۱۸ هغوی د سيند په ګودر باندې
پورې وتل چې د پادشاه کورنۍ او ډله راپورې باسي او هرڅه چې پادشاه غواړي ويې
کړي.

## داود شمعي بخښي

کله چې د جيرا زوی شمعي د اردن څخه پورې وت هغه د پادشاه په مخ کې په ځمکه
باندې پړمخې پرېوت ۱۹ او هغه ته يې وويل: <اعليحضرت دې ما ګناهکار ونه ګڼي. هغه
غلطي هېره کړئ چې ما په هغه ورځ کړې وه چې تاسو د اورشليم څخه تللئ. تاسو هغه
غلطي له خپل ذهن څخه وباسئ. ۲۰ باداره! زه پوهېږم چې ما ګناه کړې ده نو ځکه نن
ورځ د شمالي قبيلو څخه زه لومړی راغلم چې تاسو اعليحضرت سره ليدنه کتنه وکړم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ ابیشای د زرویه زوی وویل: <شمعي باید ووژل شي ځکه چې هغه چاته یې
ښکنځلي کړي دي چې څښتن هغه د پادشاه په توګه غوره کړی دی.>

۲۲ مګر داود ابیشای او د هغه ورور یوآب ته وویل: <زه ستاسو په شان نه یم! تاسو نن
زما د دښمنانو په شان عمل کوئ. اوس زه یو ځل بیا د اسراییلو پادشاه یم او نن ورځ به د
اسراییلو څخه هیڅوک ونه وژل شي.> ۲۳ نو پادشاه شمعي ته وویل: <زه قسم خورم
چې ته به ونه وژل شې.>

## داود د مفیبوشت سره پخلا کیږي

۲۴ د شائول لمسی مفیبوشت هم د پادشاه سره د لیدنې کتنې دپاره راغی. له هغې ورځې
څخه چې پادشاه تللی ؤ تر دې ورځې پورې چې هغه په خیر سره راستون شو، هغه نه
خپلې پښې مینځلې وې، نه یې خپله ږیره جوړه کړې وه او نه یې خپل کالي مینځلي وو.
۲۵ کله چې هغه د اورشلیم څخه د پادشاه د لیدنې دپاره راغی، پادشاه د هغه څخه
پوښتنه وکړه: <ای مفیبوشته، ولې زما سره لاړ نه شوې؟>

۲۶ هغه ځواب ورکړ: <لکه څنګه چې تاسو اعلیحضرت پوهیږئ زه شل یم. ما وویل: زه
به په خپل خره باندې کته واچوم او په هغه باندې به سپور شم ترڅو وکولی شم چې پادشاه
سره لاړ شم. مګر زما خدمتګار صیبا زما سره خیانت وکړ. ۲۷ هغه تاسو، اعلیحضرت ته
زما په باره کې دروغ ویلي دي. مګر تاسو د خدای د فرښتې په شان یئ، نو هرڅه چې
تاسو ته ښه ښکاري هماغه وکړئ. ۲۸ ځکه زما د نیکه ټول اولادونه د دې وړ وو چې
تاسو اعلیحضرت وژلي وای. مګر تاسو ماته د هغو خلکو په منځ کې ځای راکړ چې ستاسو
په دسترخوان باندې ډوډۍ خوري. زه حق نه لرم چې ستاسو اعلیحضرت څخه د نورو
نیکیو غوښتنه وکړم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ پادشاه هغه ته وویل: <نوري خبري مه کوه. ما پرېکړه کړي ده چي ته او صيبا په
خپل منځ کي ځمکه ووېشئ.>

۳۰ مفيبوشت پادشاه ته وویل: <پرېږدئ چي هغه هرڅه واخلي، زما دپاره دا بس دی
چي تاسو اعليحضرت په خير سره کور ته راغلئ.>

## برزلای د داود سره ګوري او بېرته خپل کور ته ستنيږي

۳۱ جلعادي برزلای هم د روجليم څخه راغلی ؤ چي د پادشاه سره د اردن د سيند څخه
پوري وزي او له هغه ځای څخه يي په خپله لاره رخصت کړي. ۳۲ برزلای ډېر زوړ
سړی او د اتيا کالو په عمر ؤ. هغه ډېر شتمن ؤ او هغه وخت چي پادشاه په محنايم کي
اوسېده نو د هغه اړتياوي به يي پوره کولي. ۳۳ پادشاه برزلای ته وویل: <زما سره د
اردن د سيند څخه پوري وزه او په اورشليم کي راسره اوسېږه، زه به ستا دپاره هرڅه برابر
کړم.>

۳۴ مګر برزلای ځواب ورکړ: <زما د ژوند موده ډېره اوږده نه ده، چي زه تاسو
اعليحضرت سره اورشليم ته لاړ شم. ۳۵ زه اوس د اتيا کالو په عمر يم او نور د هيڅ شي
څخه خوند نه شم اخيستلی. څه چي خورم او يا يي څښم د هغو په مزه باندي نه پوهېږم او
د سندرغاړو اوازونه نه شم اورېدلی، که سړي وي يا ښځي. زه به تاسو اعليحضرت دپاره
يوازي يو بار يم. ۳۶ زه د داسي لوی انعام وړ نه يم. خو زه به د اردن د سيند نه اخوا لږ
غونډي ستاسو سره لاړ شم. ۳۷ بيا ماته اجازه راکړئ چي بېرته خپل کور ته لاړ شم او
په خپل ښارګوټي کي د خپل مور او پلار په هديره کي ښخ شم. دا دی زما زوی کمهام چي
ستاسو خدمت به کوي. اعليحضرته! هغه ځان سره بوځئ او هرڅه چي تاسو ته ښه ښکاري
د هغه دپاره يي وکړئ.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۸ پادشاه وویل: <کمهام به ځان سره بوځم او هرڅه چې ستا خوښه وي زه به يې د
هغه دپاره وکړم. هرڅه چې زما څخه غواړې ستا دپاره به يې وکړم.>

۳۹ نو ټول خلک د اردن د سیند څخه پورې وتل او وروسته بیا پادشاه پورې وت.
پادشاه برزلای ښکل کړ او د هغه دپاره يې برکت وغوښت او برزلای خپل کور ته ستون
شو.

## یهودا او اسراییل په پادشاه باندې بحث کوي

۴۰ کله چې پادشاه د سیند څخه پورې وت او جلجال ته روان شو، کمهام هم د هغه سره
لاړ. د یهودا ټول عسکر او د اسراییلو نیم لښکر پادشاه پورې ویست. ۴۱ نو بیا ټول
اسراییلیان پادشاه ته ورتلل او هغه ته يې ویل: <اعلیحضرته! ولې زمونږ ورونه، یعنې د
یهودا خلکو تاسو په پټه بیولې يئ او تاسو، ستاسو کورنۍ او ستاسو نفر يې بدرګه کړې دي
او د اردن د سیند څخه يې پورې ایستلې دي؟>

۴۲ د یهودا خلکو په ځواب کې وویل: <مونږ ځکه دا کار وکړ چې پادشاه زمونږ خپلوان
دی. تاسو په دې کار باندې ولې په قهر يئ؟ مونږ د پادشاه څخه نه څه خوړلې دي او نه مو
د ځان دپاره څه شی اخیستی دی!>

۴۳ اسراییلیانو ځواب ورکړ: <مونږ لس قبیلې لرو ځکه په داود پادشاه کې لس چنده
زیات حق لرو. نو ولې تاسو زمونږ سره سپکه رویه کوئ؟ تاسو دا مه هېروئ چې مونږ هغه
لومړي خلک وو چې د پادشاه د بېرته راوستلو خبره مو کړې وه!>

مګر د یهودا د خلکو ځواب د اسراییلو د خلکو د ځواب په پرتله ډېر سخت ؤ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د شبع یاغیتوب

**۲۰** ۱ داسې وشول چې په جلجال کې یو لوچک سړی ؤ چې شبع نومېده او د بنیامیني بکري زوی ؤ. هغه سرنی وغږاوه او چیغې یې ووهلې:

<مونږه په داود کې برخه نه لرو

نه لرو میراث زوی د یسي کې مونږ

ای اسراییلیانو لاړ شئ خپل کور ته>

۲ نو ټولو اسراییلیانو داود پرېښود او د شبع پسې لاړل، مګر د یهودا خلک د داود سره پاتې شول او د اردن د سیند څخه تر اورشلیم پورې د هغه پسې روان وو.

۳ کله چې داود پادشاه خپلې ماڼۍ یعنې اورشلیم ته ورسېد، هغه لس وینځې چې د ماڼۍ د ساتنې دپاره یې پرېښې وې، هغوی یې په یو کور کې تر څارنې لاندې وساتلې. د هغوی اړتیاوې به یې پوره کولې، مګر د هغوی سره یوځای نه شو. هغوی د مرګ تر ورځې پورې بندیانې وې او لکه د کونډو په شان اوسېدلې.

۴ پادشاه عماسا ته حکم وکړ: <د یهودا سړي راوغواړه چې په دریو ورځو کې ماته راشي او ته خپله هم د هغوی سره حاضر شه.> ۵ نو عماسا لاړ چې د یهودا سړي راټول کړي، مګر عماسا په هغه وخت چې پادشاه ورته ټاکلی ؤ حاضر نه شو. ۶ نو پادشاه ابیشای ته وویل: <شبع به مونږ ته د ابشالوم څخه زیات زیان ورسوي. زما نفر واخله او ورپسې لاړ شه، داسې نه شي چې هغه ځینې د قوي دېوالونو ښارونه ونیسي او زمونږ څخه وتښتي.> ۷ نو د یوآب سړي، کریتیان او فلیتیان چې د پادشاه ساتونکي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګارډ ؤ او ټول زړور جنګيالي د ابيشای تر امر لاندې ووتل. هغوی د اورشليم څخه د شبع د
تعقيبولو دپاره روان شول. (۸) کله چې هغوی په جبعون کې لوی ګټ ته ورسېدل، عماسا
د دوی سره مخامخ شو. يوآب خپل پوځي کالي اغوستي وو او د کاليو دپاسه يې د هغې
تورې تسمه چې په غلاف کې وه تر ملا تړلې وه. څنګه چې هغه مخکې ورغی توره د
غلاف څخه ووتله او ولوېدله. (۹) يوآب عماسا ته ووېل: <ای وروره، ته څنګه يې؟> بيا
يوآب په ښي لاس د عماسا ږيره ونيوله چې ښکل يې کړي. (۱۰) خو عماسا هغې تورې ته
پام ونه کړ چې يوآب په بل لاس کې نيولې وه. يوآب توره د ده په ګېډه ومنډله او د هغه
کلمې په ځمکه باندې توی شوې او عماسا د دې لومړي ګوزار سره ژوند له لاسه ورکړ.

بيا يوآب او د هغه ورور ابيشای د شبع پسې روان شول. (۱۱) د يوآب د نفرو څخه يو تن د
عماسا په څنګ کې ودرېد او غږ يې وکړ: <هرڅوک چې د يوآب او داود پلويان دي
هغوی دې د يوآب پسې روان شي!> (۱۲) عماسا په وينو کې رغړېده او د لارې په منځ
کې پروت ؤ. د يوآب يو نفر وليدل چې هرڅوک چې به عماسا ته رسېده نو هلته به ودرېد.
نو هغه يې د لارې څخه پټي ته راوړ او پرده يې ورباندې واچوله. (۱۳) وروسته له دې چې
عماسا د لارې څخه لېرې کړای شو ټول نفر د يوآب سره روان شول چې شبع تعقيب کړي.

(۱۴) شبع د اسراييلو د ټولو قبيلو د سيمو څخه تېر شو او د آبل بيت معکې ښار ته راغی. د
بکريانو د خېل ټول غړي سره راټول شول او د هغه سره ښار ته ننوتل. (۱۵) يوآب د خپلو
ټولو لښکرو سره راغی او شبع يې په آبل بيت معکه کې کلابند کړ. هغوی د بهرني دېوال په
مقابل کې د خاورو موړې جوړې کړې او همدارنګه د دې دپاره چې هغوی دېوال
راوغورزوي د دېوال لاندينۍ برخه يې وکيندله. (۱۶) په هغه ښار کې يوه هوښياره ښځه وه
چې د دېوال څخه يې غږ وکړ: <واورئ! واورئ! يوآب ته ووايئ چې دلته راشي، زه غواړم
چې هغه ته يوه خبره وکړم.> (۱۷) يوآب ورغی او هغې ورڅخه پوښتنه وکړه: <آيا يوآب
تاسو يئ؟>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ځواب ورکړ: <هو، زه يم.>

هغې وويل: <باداره! زما خبره واورئ.>

هغه ځواب ورکړ: <زه يې اورم.>

١٨ هغې وويل: <په پخوا زمانه کې به يې داسې ويل: لاړ شه او خپل ځواب د آبل په
ښار کې تر لاسه کړه او موضوع به حل کېده. ١٩ زمونږ ښار په اسراييلو کې يو ډېر سوله
ايز ښار دی او خلک يې وفادار دي. تاسو ولې د دې کوښښ کوئ چې داسې ښار له منځه
يوسئ چې په اسراييلو کې د مور په شان دی؟ آيا تاسو غواړئ هغه څه چې د څښتن دي
هغه وران کړئ؟>

٢٠ يوآب ځواب ورکړ: <هيڅکله نه! زه به هيڅکله ستاسو ښار وران نه کړم او نه به يې
له منځه يوسم! ٢١ دا زمونږ پلان نه دی. يو سړی چې شبع نومېږي او د بکري زوی دی
او د افرايم د غرنۍ سيمې څخه دی د داود پادشاه په مقابل کې ياغي شوی دی. يوازې همدا
يو سړی راوسپارئ، نو زه به ښار پرېږدم.>

هغې وويل: <ډېر ښه، مونږ به د هغه سر د دېوال څخه تاسو ته درګوزار کړو.> ٢٢ بيا
هغه ښځه د خپلې حکيمانه مشورې سره د ښار خلکو ته ورغله او هغوی د شبع سر پرې
کړ او هغه يې يوآب ته وروغورزاوه. نو يوآب سرنی وغږاوه چې د هغه نفر ښار پرېږدي. هر
يو خپل کور ته ستون شو، يوآب هم بېرته اورشليم ته ستون شو او پادشاه ته ورغی.

## د داود ماموران

٢٣ يوآب د اسراييلو د ټولو لښکرو قوماندان ؤ او د يهوياداع زوی بناياه د داود د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ساتونکو ګارډ، یعنې د کریتیانو او فلیتیانو قوماندان ؤ. ۲۴ ادورام د بیګارۍ کارونو مشر ؤ
او یهوشافاط د اخیلود زوی د اطلاعاتو منشي ؤ. ۲۵ شیوا د دربار منشي ؤ، صادوق او
ابیاتار کاهنان وو ۲۶ او یائیري عیرا هم د داود کاهن ؤ.

## د جبعونیانو غچ اخیستل

۲۱ ۱ د داود د پادشاهۍ په دوران کې درې کاله پرله پسې قحطي شوه. نو داود په
دې باره کې د څښتن په حضور کې دعا وکړه او څښتن وویل: <شائول او د هغه کورنۍ د
قتل په وجه ګناهکاران دي، ځکه چې هغه جبعونیان ووژل.>

۲ پادشاه جبعونیان راوغوښتل او د هغوی سره یې خبرې وکړې. (جبعونیان د اسراییلو
کومه برخه نه وه بلکه هغه خلک وو چې د اموریانو څخه ژوندي پاتې شوي وو. اسراییلیانو
قسم خوړلی ؤ چې هغوی به ژوندي پرېږدي، مګر شائول د هغه ملي تعصب له کبله چې یې
درلود هڅه وکړه چې هغوی له منځه یوسي ځکه چې هغه غوښتل چې اسراییل او یهودا په
ټوله ځمکه باندې کنترول ولري.) ۳ داود د جبعونیانو څخه پوښتنه وکړه: <ستاسو دپاره
څه وکړم؟ زه غواړم هغه ظلم چې ستاسو سره شوی دی د هغه تاوان درکړم ترڅو تاسو د
خدای د قوم دپاره برکت وغواړئ.>

۴ هغوی ځواب ورکړ: <مونږ د شائول د کورنۍ څخه سره زر او سپین زر نه غواړو او
مونږ دا حق نه لرو چې اسراییلیان ووژنو.>

داود پوښتنه وکړه: <نو بیا څه غواړئ چې ستاسو دپاره یې وکړم؟>

۵ هغوی ځواب ورکړ: <شائول دسیسه جوړه کړې وه چې مونږ تباه کړي، ترڅو مونږ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په اسراییلو کې هیڅ ځای ونه لرو. ۶ نو د شائول اووه زامن مونږ ته راکړئ. مونږ به
هغوی په جبعه کې د څښتن په حضور کې په دار ځوړند کړو، يعني د شائول په ښار کې
چې د څښتن غوره شوی پادشاه ؤ.>

پادشاه ځواب ورکړ: <هغوی به تاسو ته وسپارم.>

۷ مګر د هغه قسم له کبله چې هغه او یوناتان یو د بل سره خوړلی ؤ داود د یوناتان
زوی او د شائول لمسی مفیبوشت ژوندی پرېښود. ۸ مګر پادشاه د ایه د لور رزفې دوه
زامن، ارموني او مفیبوشت چې د شائول دپاره يې زېږولي وو، ونیول او همدارنګه د شائول
د لور میراب پنځه زامن چې هغې د محولاتي برزلای زوی عدر ئیل دپاره زېږولي وو هم
ونیول. ۹ داود هغوی جبعونیانو ته وسپارل، هغوی يې په یوې غونډۍ باندې د څښتن په
حضور کې په دار ځوړند کړل او هغه اووه واړه یو ځای مړه شول. دا د اوربشو د لو کولو
پیل ؤ چې هغوی ووژل شول.

۱۰ د ایه لور رزفې زیږې ټوټې راواخیستلې، په یوه ګټ باندې يې د خپل ځان دپاره
وغوړولې او هلته د لو کولو د پیل څخه د باران تر ورېدو پورې پاتې شوه. د ورځې له خوا
به هغې دا مړي د مرغانو څخه ساتل او د شپې له خوا به يې د وحشي حیواناتو څخه ساتل.

۱۱ کله چې داود خبر شو چې رزفه څه کړي دي، ۱۲ هغه لاړ او د شائول او د هغه د
زوی یوناتان هډوکي يې په جلعاد کې د یابیش د سړیو څخه واخیستل. (پخوا فلسطینیانو
شائول او یوناتان د جلبوع په غره کې وژلي وو او مړي يې په هماغه ورځ د بیت شان په
عمومي چوک کې ځوړند کړي وو. د یابیش سړیو به پټه توګه دغه مړي له هغه ځایه وړي
وو.) ۱۳ داود د شائول او د هغه د زوی یوناتان هډوکي له یابیش څخه راوړل، همدارنګه
هغوی د هغو نفرو هډوکي هم راټول کړل چې په دار ځوړند شوي وو. ۱۴ بیا هغوی د
شائول او یوناتان هډوکي په صیله کې د بنیامین په سیمه کې د شائول د پلار يعني قیس په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هديره کې ښخ کړل او هرڅه چې پادشاه ورته حکم کړی ؤ هغه يې وکړل. له هغې وروسته خدای د هغه هېواد دپاره د هغوی دعا قبوله کړه.

## د فلسطيني جنګياليو سره جګړه

(اول تواريخ ۲۰: ۴ – ۸)

۱۵ يو ځل بيا فلسطينيان د اسراييليانو سره د جګړې دپاره راغلل. داود او د هغه سړي د
هغو سره د مقابلې دپاره لاړل. د جنګ په دوران کې، داود ستړی او ستومانه شو. ۱۶ نو
يشبيبنوب چې د رافا د لوړ قدو اولادې څخه ؤ، د هغه د نېزې وزن درې نيم کيلوګرامه ؤ او
نوې توره يې تر ملا تړلې وه، نيت يې درلود چې داود ووژني. ۱۷ مګر د زرويه زوی
ابيشای د داود د مرستې دپاره راغی. په هغه فلسطيني جنګيالي باندې يې حمله وکړه او
ويې واژه. نو د داود نفرو هغه ته قسم ورکړ ويې ويل: <د دې نه وروسته به زمونږ سره
جنګ ته نه راځې. تاسو د اسراييلو دپاره د څراغ په شان يئ او مونږ نه غواړو چې دا څراغ
مړ شي.>

۱۸ د وخت په تېرېدلو سره د فلسطينيانو سره په جوب کې يوه بله جګړه وشوه. حوشاتي
سبکای د رافا د لوړ قدو اولادې څخه يو تن چې صاف نومېده وواژه.

۱۹ په جوب کې د فلسطينيانو سره په يوه بله جګړه کې د يائير زوی الحانان چې د
بيت لحم څخه ؤ جتي جليات وواژه چې د هغه سره يوه نېزه وه چې د هغې لاستی د اوبدلو
د دستګاه د ميلې په شان ؤ.

۲۰ وروسته بيا په جت کې يوه بله جګړه وشوه. په هغه ځای کې يو ډېر غټ سړی ؤ چې
لاسونو او پښو يې شپږ، شپږ ګوتې درلودلې چې ټولې څلورويشت ګوتې وې، هغه هم د رافا
د لوړ قدو له اولادې څخه ؤ. ۲۱ کله چې هغه اسراييليانو ته پېغور ورکړ، د داود وراره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوناتان چې د شمعي زوی ؤ هغه یې وواژه.

۲۲ دغه څلور نفره په جت کې د رافا د لوړ قدو اولادې څخه وو او هغوی د داود او د
هغه د نفرو له خوا ووژل شول.

## د داود د کامیابۍ سندره

(زبور ۱۸)

**۲۲** ۱ کله چې څښتن داود د شائول او د هغه د نورو دښمنانو څخه خلاص کړ، داود
څښتن ته دا سندره وویله. ۲ هغه وویل:

<څښتن دی زما ساتونکی

دی زما قوي کلا

۳ زما ساتونکی زما خدای دی

زما امن دی هغه کې

کړي ساتنه لکه سپر زما

زما دفاع کوي ساتي مې خوندي

دی څښتن زما ژغورونکی

کړي دفاع هغه ساتي مې تشدد نه ۴ مرسته غواړم له څښتنه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې لایق دی د صفت

خلاصوي به مې هغه

ما له خپلو دښمنانو

۵ د مرګ خپې رانه راتاوې شولې

د بربادۍ سیلابو واخیستمه

۶ پښې مې د ګور رسۍ کې ونښتلې

مرګ راته لاره کې خپل دام ایښی ؤ

۷ په خپل تکلیف کې مې ښښتن ته غږ کړ

کومک دپاره مې خپل خدای ته غږ کړ

زما اواز یې په خپل کور کې واورېد

زما فریاد یې د کومک واورېده

۸ بیا ځمکې وخوړ ټکان ولړزېده

شوې په خوځېدو د اسمانو ستنې

ځکه په قهر ؤ خدای



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ شو له سپېړمو نه يې راپورته لوګی

بلې لمبې او سرې سکروټې يې بادېدلې د خولې

١٠ ده کړې خلاصې دروازې د اسمانونو او راکوز شو

تورې ورېځې وې د ده تر پښو لاندې

١١ هغه سپور په کروب شولو او والوته

سپور شو په وزرو د باد ژر راغی

١٢ ځان ته جوړه يې پرده کړه له تيارې نه

د اوبو ډکې تينګې ورېځې وې چاپېره د ده

١٣ د جلال نه د هغه د موجوديت

وکړلې لمبې سکروټو وکړلې

١٤ لکه تندر ښبنتن وکړلې خبرې له اسمانه

اواز شو د مطلق قادر ښبنتن په اورېدو

١٥ وويشتل هغه خپل غشي، دښمنان يې تار په تار کړل

د برېښنا په پړکېدو يې ماتې ورکړه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ دښمنان چې کله ورتېل ښښتن خپل

د هغه د تنفس په انفجار

تل د سمندر هم راښکاره شولو

وو پراته د ځمکې بنسټونه لوڅ

۱۷ له اسمانه ښښتن لاس خپل کړ را اوږد ويې نيولم

له ژورو اوبو ده راوويستلم

۱۸ زه يې کړمه له قوي دښمنه خلاص

او له هغو چې نفرت يې کړ له ما نه

دوی وو ډېر قوي له ما نه

۱۹ هغه وخت کې چې زه ومه په تکليف کې

دوی حمله وکړه په ما

خو ښښتن زه حمايه کړم

۲۰ له خطره يې کړم بچ مرسته يې وکړه

ځکه يې کړم بچ چې ؤ راضي له ما



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ اجر راکوي ښښتن ځکه کړم کارونه نېک

یمه بې ګناه ځکه انعام راکوي ماته

۲۲ ما د ښښتن د قوانینو اطاعت کړی دی

نه مې د بدی په خاطر مخ له خپل خدای پاک نه اړولی دی

۲۳ ما عمل کړی د هغه په قوانینو ټولو

نافرماني مې کړې نه ده له حکمونو د ده

۲۴ هغه پوهېږي زه بې عیبه یمه

بدو کارونو نه مې ځان ساتلی

۲۵ نو اجر راکوي ښښتن ځکه کړم کارونه نېک

هغه پوهېږي بې ګناه یمه زه

۲۶ ای ښښتنه، وفادار یې هغه چاته چې وي تاته وفادار

تل نېکي کړې د هغو سره چې وي بې عیبه

۲۷ پاک ته خپل ځان پاک ښایې

ټګجن ته ځان پېچلی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ ته عاجزانو ته نجات ورکوې

خو کبرجن ټیټوې

۲۹ ته زما ډیوه یې ای څښتنه

چې بدلوې زما تیارې په رڼا

۳۰ راکوې قوت چې کړم ناتار په دښمن

راکوې قدرت په دیوالو د ختو

۳۱ ګوره زما پاک خدای خومره کامل یې عملونه دي

خومره د باور یې ټول لوظونه دي

هغه دی ډال هغو ته

ټول چې یې پناه ده ته راوړې ده

۳۲ صرف څښتن دی خدای

کړي چې په یوازې ځان دفاع زمونږ

۳۳ دی دا خدای پاک زما ځواکمن پناه ځای

هغه زما لاره خوندي ساتي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۴ زه ثابت قدم لکه هوسی یې کړم

ساتي مې خوندي په تورو غرونو کې

۳۵ هغه ما تیاروي د جنګ دپاره

ترڅو زه کړمه راکش لینده د زېړو

۳۶ ډال راکوې ماته د خلاصون خپل

زه پیاوړی کړی ستا کومک یمه

۳۷ ته پراخوې زما د پښو لاره

ځکه نه ښوئیږي پښې زما هیڅکله

۳۸ دښمنان تعقیبوم او ماتوم یې

نه راګرځم تر هغې چې یې نابود کړم

۳۹ داسې یې وهم چې پاڅېدی نه شي

دي زما د پښو لاندې نسکور پراته

۴۰ راکوې ما له ته قوت د جګړې

غورزوې ماته دښمنان په پښو کې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۱ مجبوروي دښمنان زما تېښتې ته

زه تباه کوم هغه چې کرکه کړي زما ځنی

۴۲ دوی د کومک دپاره لټه کوي

نشته څوک چې کړي دوی خلاص

وهي چيغې دوی څښتن ته

هغه نه ورکوي دوی ته ځوابونه

۴۳ لکه د دوړې ميده کومه يې زه

داسې تر پښو لاندې کومه يې زه

لکه د خټو د کوڅو په شانتې

۴۴ تا زه د خپلو سرکشانو څخه خلاص کړلمه

او د قومونو دې سردار پرېښودم

اوس مې خدمتونه هغه خلک کوي

څوک چې پخوا نه پېژندل ما کله

۴۵ هم بهرنيان زما په مخ کې ټيټوي سرونه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کله اوري زما په هکله اطاعت مې کوي

۴۶ دوی بایلي خپل همتونه

په لړزه باندې راوزي دوی له خپلو کلاګانو

۴۷ څښتن ژوندی دی!

ده ستاینه ساتندوی لره زما!

د هغه ځواکمن خدای کړئ لویې اعلان

چې مې ژغورې چې مې ژغورې

۴۸ راکوي ماته توفیق چې بدل واخلم له دښمنه

راولي زما د ځواک لاندې قومونه

۴۹ او ما له خپلو دښمنانو خلاصوي

راکوې بریا په غلیمانو ای څښتنه ته

او ما ساتې له ظالمو انسانانو

۵۰ ځکه نو څښتنه د قومونو منځ کې ستا کوم ستاینه

وایمه زه ستا د صفت سندرې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٥١ خدای ورکوي لويې برياوې خپل پادشاه ته

مينه تل عمري کوي د خپل غوره کړای شوي سره

تل تر تله د داود او د هغه د اولادې سره>

## د داود اخرنۍ خبرې

**٢٣** ١ نو دا د داود اخرنۍ خبرې دي:

د يسي د زوی داود خبرې

د هغه سړي خبرې چې خدای لوړ مقام ورکړی ؤ

چې ټاکلی هغه خدای ؤ د يعقوب

سندرغاړی چې ؤ خوږ د اسراييلو

٢ >د ښبنتن روح خبرې زما په وسيله کولې

د هغه کلام جاري ؤ زما په ژبه

٣ د اسراييلو خدای خبرې کړلې

د اسراييل ساتونکي وويل ماته

کله چې څوک په خلکو وکړي حکومت په عدل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې وکړي حکومت د خدای له وېرې سره

۴ په شان دی د سهار د رڼا وي چې لمر خاته کې

وي په سهار چې په بې ورېځو سهار

د هغې رڼا په شان چې راپیدا پس د باران شي

چې وابښه راشنه کوي په ځمکه باندې

۵ ربښتیا، همداسې چلند زما د اولادې سره به هم کیږي

خدای کړی زما سره دی لوظ ښه تلپاتې لوظ

هرڅه صحیح دي تنظیم شوي سره

هغه به هیڅکله د ژمنې خپلې شاته نه شي

زما همدغه تمنا ده ټوله

دا یقیني ده چې خدای ما سره به مرسته وکړي

دا یقیني ده چې هغه به دا ترسره کړي ټول

۶ خو دي بدکاره خلک په څېر د اغزو

غورزول کیږي چې د ځانه ځنی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په لاسو راټولېدلی نه شي

٧ هرڅوک چې اغزي لمس کړي

کاروي دی اوسپنیز سامان یا لاستی د نېزې

هلته به سوزېږي په کوم ځای چې وي پراته هغه>

## د داود نامتو جنګیالي

(اول تواریخ ۱۱: ۱۰ – ۴۱)

٨ دا د داود د لښکرو درې نامتو جنګیالي وو: لومړی یې تحکموني یوشیب بشبت ؤ چې
د دې زړورو مشر ؤ. هغه په خپلې نېزې باندې د اته سوه نفرو سره وجنګېده او هغوی ټول
یې په یو وخت کې ووژل.

٩ دوهم یې العازار ؤ چې د دودو زوی ؤ او د اخوخ د خېل څخه ؤ. یوه ورځ چې
فلسطینیان د اسراییلو سره د جګړې دپاره راغونډ شوي وو، هغه او داود فلسطینیان د
جګړې دپاره راوپارول. اسراییلیان بېرته په شا شول، ١٠ مګر العازار په میدان کې ودرېد
او تر هغې پورې د فلسطینیانو سره وجنګېده چې لاس یې دومره شخ شو چې هغه نه شو
کولی د خپلې تورې څخه یې لېرې کړي. په دغه ورځ ښښتن اسراییلیانو ته لوی بری ورکړ.
وروسته له هغې چې دا هرڅه پای ته ورسېدل اسراییلیان هغه ځای ته راستانه شول چې
العازار په کې ؤ، مګر یوازې د دې دپاره چې وژل شوي عسکر لوټ کړي.

١١ دریم یې شمه د حراري آجي زوی ؤ. فلسطینیان په لحي کې چېرته چې د نسکو پټی
ؤ راغونډ شول. اسراییلیان د فلسطینیانو څخه وتښتېدل، ١٢ مګر شمه د پټي په منځ کې
ټینګ ودرېد، د هغه څخه یې دفاع وکړه او فلسطینیان یې ووژل. په دغه ورځ ښښتن



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اسراییلیانو ته لوی بری ورکړ.

۱۳ یو ځل د لو د پیل کېدلو وخت نژدې ؤ چې د داود د دېرشو افسرانو څخه درې تنه د
عدولام سمڅې ته چې داود په کې ؤ ورغلل، په هغه وخت کې د فلسطینیانو یوې ډلې د
رفائیم په دره کې خېمې ودرولې وې. ۱۴ داود هغه وخت په خپل محفوظ ځای کې ؤ او
د فلسطینیانو یوې ډلې بیت لحم نیولی ؤ. ۱۵ داود ارمان وکړ او ویې ویل: <کاشکې
څوک د هغه کوهي څخه چې د بیت لحم دروازې ته نژدې دی ماته اوبه راوړي.> ۱۶ نو
هغو درېو زړورو نفرو د فلسطینیانو کربنې ماتې کړې، د کوهي څخه یې اوبه راوویستلې او
داود ته یې راوړې، مګر داود هغه ونه څښلې او هغه یې د نذرانې په توګه څښتن ته توی
کړې. ۱۷ داود وویل: <ای څښتنه، زه دا هیڅکله نه شم څښلی! دا به د هغو نفرو د وینو
د څښلو په شان وي چې خپل ژوند یې په خطر کې اچولی ؤ!> نو هغه دا اوبه ونه څښلې.

د هغو درېو زړورو نفرو اتلولي دارنګه وه.

۱۸ ابیشای د یوآب ورور، چې مور یې زرویه وه، د دېرش کسیزه ډلې مشر ؤ. هغه په
خپلې نېزې باندې د درې سوه نفرو سره وجنګېد او هغوی یې ووژل. نو په دې توګه هغه
هم لکه د هغو درېو جنګیالیو په شان مشهور شو. ۱۹ که څه هم هغه په هغې دېرش
کسیزې ډلې کې ډېر زیات مشهور او د هغوی مشر شو، مګر د هغو درېو تنو په شان مشهور
نه شو.

۲۰ بل توریالی عسکر بنایاه د یهویاداع زوی ؤ چې د قبصئیل څخه ؤ. هغه ډېر د
زړورتوب کارونه کړي وو چې په هغو کې د دوو سترو موآبي جنګیالیو وژل شامل وو. یو
ځلې هغه د واورې په ورځ یوې کندې ته ورکوز شو او یو زمری یې وواژه. ۲۱ همدارنګه
هغه یو ډېر غټ مصری چې په نېزه باندې سمبال ؤ وواژه. بنایاه په خپل ډانګ باندې په
هغه حمله وکړه، د هغه مصري د لاس څخه یې نېزه واخیسته او هغه یې ورباندې وواژه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ بنایاه داسي د زړورتوب کارونه وکړل چې د دریو جنګیالیو په منځ کې مشهور شو.
۲۳ د هغه عزت د هغې دېرش کسیزه ډلې څخه ډېر زیات شو، مګر په دریو جنګیالیو کې نه شمېرل کېده. داود هغه د خپلو ساتونکو د کارډ مشر وټاکه.

۲۴ په دېرش کسیزه ډله کې دغه نفر وو:
عساهیل د یوآب ورور.
الحانان د دودو زوی د بیت لحم څخه.
۲۵ شمه او الیقا د حرود څخه.
۲۶ حالز فلتي.
عیرا د عقیش زوی د تقوع څخه.
۲۷ ابیعزر د عناتوت څخه.
مبونای د حوشا څخه.
۲۸ صلمون د اخوخ څخه.
مهرای د نطوفه څخه.
۲۹ حالب د بعنه زوی د نطوفه څخه.
اتای د ریبای زوی د بنیامین د جبعې څخه.
۳۰ بنایاه د فرعاتون څخه.
هدای د جاعش د خوړونو څخه.
۳۱ ابي علبون د عربات څخه.
عزموت د بحوریم څخه.
۳۲ الیحبا د شعلبون څخه.
د یاشن زامن.
یوناتان. ۳۳ شمه د حرار څخه.
اخیام د شارر زوی د حرار څخه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۴ اليفلط د احسبای زوی د معکي ښخه.
اليعام د اخيتوفل زوی د جيلوه ښخه.
۳۵ حزرای د کرمل ښخه.
فعرای اربي.
۳۶ يجال د ناتان زوی د صوبې ښخه.
باني د جاد ښخه.
۳۷ صالق د عمون ښخه.
نحرای د بيروت ښخه يعني هغه سړی چې د يوآب وسلې به يې وړلې.
۳۸ عيرا يتري
او جارب يتري.
۳۹ اوريا حيتي.
دا ټول اووه دېرش نفره وو.

## داود او سر شمېرنه

(اول تواريخ ۲۱: ۱ – ۲۷)

**۲۴** ۱ ښښتن يو ځل بيا په اسراييلو باندې په قهر شو او داود يې د هغوی په ضد
راوپاراوه چې سختې او تکليف ورباندې راولي. ښښتن هغه ته وويل: <لاړ شه او د
اسراييلو او يهودا خلک وشماره.> ۲ نو داود د خپلو لښکرو قوماندان يوآب ته حکم
وکړ: <د خپلو عسکري منصبدارانو سره د اسراييلو په ټولو قبيلو کې په شمال کې د دان
ښخه، په جنوب کې تر بئرشبع پورې وګرځه او خلک وشماره. زه غواړم پوه شم چې هغوی
څومره دي.>

۳ مګر يوآب پادشاه ته ځواب ورکړ: <اعليحضرته! ستاسو ښښتن خدای دې د اسراييلو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د قوم شمېر د اوسني شمېر څخه سل چنده زيات کړي او تاسو دې ژوندي اوسئ چې هغه ووينئ. مګر اعليحضرته! ولې تاسو غواړئ چې دا کار وکړئ؟>

۴ خو پادشاه يوآب او د هغه عسکري منصبداران مجبور کړل چې د هغه امر ته غاړه کېږدي. نو هغوی د پادشاه د حضور څخه روان شول چې د اسراييلو خلک وشماري.

۵ هغوی د اردن د سيند څخه پورې وتل او خپل کار يې د عروعير څخه او د يو بل ښار چې د درې په منځ کې ؤ پيل کړ. بيا وروسته هغوی د جاد د سيمې څخه تېر شول او شمال خوا يعزير ته لاړل. ۶ هغوی جلعاد او د تحتيم حدشي سيمې ته لاړل او دان يعن ته ورسېدل، بيا وروسته لوېديځ خواته تاو شول او صيدون ته ورسېدل. ۷ وروسته بيا هغوی جنوب خواته د صور قوي شوي ښار او د حويانو او کنعانيانو ټولو ښارونو ته لاړل. په پای کې د يهودا جنوبي خواته تر بئرشبع پورې لاړل. ۸ هغوی په نهو مياشتو او شلو ورځو په ټول هېواد کې وګرځېدل او بېرته اورشليم ته راستانه شول. ۹ هغوی پادشاه ته د هغو نفرو د شمېر راپور ورکړ چې جنګ يې کولی شو. په اسراييلو کې اته لکه او په يهودا کې پنځه لکه نفره وو.

۱۰ خو وروسته له هغې چې داود سر شمېرنه واخيسته د هغه وجدان ناارامه شو او ښتن ته يې وويل: <په دې کار سره ما ډېره سخته ګناه وکړه! نو ای ښتنه، زه تاته زاري کوم چې د خپل غلام ګناه وبخښه ځکه چې ما ډېر احمقانه کار کړی دی.>

۱۱ په راتلونکي سهار، مخکې له دې چې داود له خوبه راپاڅي ښتن جاد ته چې د داود نبي ؤ ويلي وو: ۱۲ <لاړ شه او داود ته ووايه چې ښتن داسې وايي: زه تاته د دريو سزاګانو د ټاکلو اختيار درکوم، د هغو څخه يو وټاکه چې هغه ستا په ضد ترسره کړم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۳) نو جاد داود ته ورغی او څه چې ښښتن ورته ویلي وو هغه یې بیان کړل. پوښتنه یې
ورځخه وکړه: <له دغو څخه دې کومه یوه وي؟ آیا درې کاله دې ستا په هېواد کې قحطي
وي، یا درې میاشتې د خپلو دښمنانو څخه تېښته او یا به درې ورځې ستا په هېواد کې وبا
وي؟ اوس په دې هکله فکر وکړه او راته ووایه چې بېرته ښښتن ته څه ځواب یوسم.>

(۱۴) داود جاد ته په ځواب کې وویل: <زه په ډېر لوی مصیبت کې یم، مګر نه غواړم چې
د خلکو له خوا سزا ووینم. پرېږده چې ښښتن په خپله مونږ ته سزا راکړي ځکه چې هغه
ډېر مهربان او رحیم دی.>

(۱۵) نو ښښتن په هغه سهار په اسراییلو باندې وبا نازله کړه او تر هغه وخته پورې یې دوام
وکړ چې هغه ټاکلی ؤ. د دان څخه تر بئرشبع پورې اویا زره خلک مړه شول. (۱۶) کله چې
د ښښتن فرښته نژدې وه چې اورشلیم له منځه یوسي، ښښتن خپله اراده خلکو ته د سزا
ورکولو په هکله بدله کړه او هغې فرښتې ته چې هغوی یې وژل وویل: <ودرېږه! بس
دی!> په دې وخت کې د ښښتن فرښته د یبوسي ارونه د درمند ځای سره وه.

(۱۷) کله چې داود هغه فرښته ولیدله چې خلک یې وژل نو ښښتن ته یې وویل: <زه
ګناهکار یم. ما ګناه کړې ده، دا خلک لکه د بې ګناه پسونو په شان دي. هغوی څه کړي
دي؟ مهرباني وکړه ما او زما کورنۍ ته سزا راکړه.>

## داود د قربانۍ ځای جوړوي

(۱۸) په هماغه ورځ جاد داود ته ورغی او ورته ویې ویل: <د یبوسي ارونه درمند ځای ته
لاړ شه او هلته د ښښتن دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړه.> (۱۹) نو داود لکه څنګه چې
ښښتن د جاد په وسیله امر کړی ؤ هغه ځای ته لاړ. (۲۰) کله چې ارونه وکتل، پادشاه او د
هغه نفر یې ولیدل چې د ده خواته راروان دي. هغه راووت او د پادشاه په مخکې د درناوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خاطر په ځمکه باندې پرمخې پرېوت.

٢١ ارونه پوښتنه وکړه: <اعلیحضرته، تاسو ولې ماته راغلئ؟>

داود ځواب ورکړ: <زه د دې دپاره راغلی یم چې ستا درمند ځای په بیه واخلم او په هغه
کې د څښتن دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړم. ځکه زه غواړم چې وبا بنده شي.>

٢٢ ارونه وویل: <اعلیحضرته! هرڅه چې تاسو غواړئ هغه واخلئ او څښتن ته یې
وړاندې کړئ. دا دې غوایان د سوزېدونکې قربانۍ دپاره او دا دې د هغوی جغونه او د غوبل
کولو څېرونه چې د سوزولو د موادو په توګه ورڅخه کار واخیستل شي. ٢٣ ای پادشاه، دا
ټول تاسو ته درکوم.> همدارنګه ارونه پادشاه ته وویل: <ستاسو څښتن خدای دې قبول
کړي.>

٢۴ مګر پادشاه ارونه ته په ځواب کې وویل: <نه، زه به دې باندې ټینګار کوم چې د
هغې بیه درکړم. زه به خپل څښتن خدای ته هغه سوزېدونکې قربانۍ وړاندې نه کړم چې
ماته وړیا تمامې شوې وي.> نو داود هغه درمند ځای او غوایان په پنځوس مثقاله سپینو
زرو باندې واخیستل. ٢۵ بیا داود په هغه ځای کې څښتن ته د قربانۍ ځای جوړ کړ او
سوزېدونکې او د سلامتۍ نذرانې یې وړاندې کړې. نو څښتن د هېواد دپاره د هغه دعا قبوله
کړه او په اسراییلو باندې وبا بنده شوه.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.